# احمد تفسیر

(30 جزء)

# سورة الناس

(114)

Ketabton.com

لیکوال:
امین الدین سعیدي «سعید افغاني»
ژباړن: مجیب الرحمن خطیبي

سورة الناس
احمد تفسیر
(30 جزء)
(114)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
## النَّاسِ سوره
## ۳۰ جزء
### د الناس سوره په مديني منوره کې نازل شوې او شپږ آيتونه لري.

### د تسميې وجه:
دا سوره ځکه په ناس نومول شوي ده چې د «قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ١» په مبارکه آيه پيل شوې او د ناس کلمه پنځه ځلې راغلی ده.

### د الناس سورې د آيتونو، کلمو او ټکو شمېر:
د « ناس سوره » يوه له مکي سوروو څيني ده چې (1) يوه رکوع (6) شپږ آياتونه، (20) شل کلمې (81) يواتيا ټکي او(25) پنځه ويشت نقطې لري.

**يادونه:** د قرآن کريم د کلمو په شمېرکي علماء سره جلا جلا نظرونه لري (يعني دعلماوو په نظر کي اختلاف شته) د لا تفصيل لپاره تاسو کولی شئ،دآحمد تفسير الطورسورې ته ورشئ.

بايد يادونه وشي چې: د «الناس» سوره د مصحف شريف د ترتيب له مخې د قرآن کريم وروستۍ سوره او د قرآن کريم «فاتحې» سورې په شان د پاک الله سبحان تعالى شکر، ثنا ويل او له حق تعالى نه مرسته غوښتنه ده. پيل او په «معوذتين» چې د هغه مراد هم له حق تعالى نه مرسته او پناه غوښتل دي،پای ته رسيږي.

د سورې څيني مفسرينو (الناس او الفلق)سورې يې په «معوذتين»نومولي دي.لکه څرنګه چې په ټوليزه توګه څرګنديږي؛د دواړو سورو بحث يو شان دی،چې پاک الله نه له شره پناه غوښتل دي.

که په ټوليزه توګه يادې شوې سورې ته په ځير سره پام واړول شي؛ په واضح ډول به وپوهيږو چې «الناس» سوره د «الفلق» سورې شرحې سره يو شان ده. که «الناس» د «الفلق» سورې شرحه وګڼو، نو وينو چې د «الفلق» په سورې کې «د سحرګروسِحرى چلونو» په اړه بحث شوی؛ او «الناس» سورې کې هغه څوک چې د انسان په سينه کې وسوسه اچوي بحث شوی دی. په «فلق» سوره کې د دنيا له آفتونواو مصيبتونوڅيني پناه غوښتنه ذکر شوې او په «الناس» سوره کې د آخروي زيان يا له شره د پناه غوښتلو په اړه ټينګار شوی. لکه څنګه چې په «فلق» سوره کې د «شر» مفهوم بيان شو چې د دواړو رنځونو او دردونو لاملونه شامل دي. په الناس سوره کې د يوه شي له شره پناه غوښتل شوې چې د ټولو ګناهونو لامل دی؛ يعنې شيطاني وسواسونه او د هغه علايم، ځکه چې د آخرت ضرر يې ډېرسخت دی. نو د هغه د ټينګار له امله قرآن کريم په دې سورې ختم شوی.

### په ټوليزه توګه د الناس سورې د آيتونو ويش :
له لومړي آيت نه تر دريم آيت پورې، الله (ج) ته د انسان د پناه وړلو څرګندوينه شوې او الله سبحانه تعالى پناه ورکوونکی دی. د سورې له څلورم آيت نه نيولې تر پايه پورې، يعني شپږم آيت پورې د بديو بيان دی چې انسان ته اړينه ده چې له دې بديو الله جل جلالهٔ څخه پناه وغواړي،ترڅوله دې شر څخه ځان وژغوري او په ځانګړې توګه د دغوبديو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرچینه دوه ډلې انس او جن دي؛ هغه بدئ چې موږ په **«فلق»** سورې کې ذکر کړي،عام دي، خو دلته له دوه ډلو انس او جن ځینې بدئ صادریږي.

**دالناس سورې عمومي منځپانګه یا محتوا :**

د الناس سورې عمومي منځپانګه یوه رښتیني اصل ته اشاره کوي او وایي: هغه دا ده چې هوښیاراو ویښ اوسئ! انسان تل له شیطاني فتنو سره مخ وي،انس او جن شیاطین تل په دا هڅه کې وي چې د انسان زړه او روح کې ننوځي.هرڅومره چې د انسان مقام په علم **(ساینس)** کې لوړیږي او ورسره په ټولنه کې مقام ته رسیږي؛د شیاطینوفتنې**(وسوسې)** لاپسې ډیریږي،ترڅو انسان له سمې لارې وګرځوي، نوله همدې امله په دې سوره کې د نړئ د بشریت ځارئ، لاربنود او عالم په توګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کوي چې د هر راز وسوسو له شر ځینې الله جل جلاله سبحان تعالی ته پناه یوسئ.

د خناس د فتنواو وسوسونه پناه یوسئ!**«الَّذِي يوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ»**،**الله جل جلاله ته چې هم د خلکو رب هم پاچا هم خدای دی.**

په دې دوران کې د شیطان د فعالیت، پروګرام او پلان دا وي چې هغه خپل فعالیت او کاري پلان په پټه او په مکارئ تر سره کوي. ډیری وخت داسې پېښیږي چې شیطان د انسان په غوږ کې راڅرګندیږي او د هغه په ذهن کې داسې مسالې راپورته کوي چې انسان فکر کوي، دا د هغه خپل پلان او نظریه ده او د هغه په وجود کې روزل کیږي، همدا مساله لامل کیږي چې د هدایت د پوښښ ځای ګمراهي ونیسي. انسان باید په دې تمه نه وي چې شیطان په خپلو جامو کې ووینې، بلکې دوی تل د حق یوه برخه  د باطل له یوې برخې سره ګډوي، ترڅو په خلکو واکمن شي.

نو په ټوله کې د الناس سورې بحث د انسان ښوونه او روزنه ده،دا سوره انسان ته ښوونه کوي چې تل له شیطاني وسوسو او فتنو سره مخ دی. د جن او انس شیاطین په دې هڅه کې دي چې د انسان په زړه او روح کې ځاله جوړه کړي، انسان باید ټول عمر بېداره او ویښ ویي، اند انسان باید په خوب کې هم شیطان سره د مُبارزې لاره هېره نه کړي.

علما وایي: د شیطان عمومي موخه د حق له لارې د خلکو ایستل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الناس سورې تفسير او ژباړه
# ۳۰ جزء
# بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
# د ښښونکي او مهربان څښتن تعالی په نامه

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ﴿٢﴾ إِلَهِ النَّاسِ﴿٣﴾ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ﴿٤﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ﴿٦﴾

**آياتونو ژباړه:**

«قل اعوذ برب الناس» (1): (ووايه! زه د خلکو پالونکي رب ته پناه وړم.)

«ملك الناس»(2) : (د خلکو مالک او واکمن ته.)

«اله الناس»(3) :( د خلکو ( خدای او) معبود ته.)

«من شر الوسواس الخناس»(4): ( د ډېرپټېدونکي وسوسه اچوونکي له شره.)

«الذی یوسوس فی صدور الناس»(5): (چې د خلکو په سينو کې وسوسه اچوي.)

«من الجنة و الناس»(6): ( څه هغه د پيريانوله نسل څخه وي څه هغه د انساني له نسل څخه وي.)

**د لغاتونو او اصطلاحاتو تشريح:**

**«الناس»** : خلک **«مَلِك»:** سرور او سالار، واکمن، د اختار لرونکی **«إله »:** معبود، واکمن فرمان ورکوونکی،هغه څوک چې حاکم د زړونو دی.**«الوسواس»:**وسوسه کوونکی،د**«الخنّاس» (خنس)** مُوسوِس: هغه چې په پټه څه اوري او بېرته ځي، پټ کار. **[← تکوير/۱۵، الْخُنَّس] «يوسوس»:** وسوسه کوي،په نرمی او ورو خبرې کوي. **«الجنّة»**: د جن **(پيريانو)** ډله، د پرښتو ډله.

## ګرانو لوستونکو!

په دې مُبارکه سوره کې،د پيريانواو انسانانو شيطانانوله شرڅخه **الله جل جلاله** تعالی ځيني پناه غوښتل دي. په حديث کې آمام آحمد، نسايي او ابن حبان له آبوذر (رض) روآيت کړی دی چې وې ويل: زه د رسول **الله صلی الله عليه وسلم** خدمت ته راغلم، رسول الله صلی الله عليه وسلم په جومات کې حضور درلود اووې فرمايل: **«ابوذره! تا لمونځ کړی دی؟»** ما وويل: **«خير»** وي ويل: **«پورته شه او لمونځ وکړه»** له هغه وروسته ما لمونځ وکړ، راغلم او کيناستم. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:« **تعوذ بالله من شر شياطين الإنس والجن.** اې ابوذره! د پيريانواو انسانانوشيطانانو،له شرڅخه **الله جل جلاله** تعالی ته پناه يوسه»ماعرض وکړ:« يا **رسول الله**،آيا انساني شياطين هم شته؟!» وې فرمايل: هو!

## د الناس سورې تفسير:

**«قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ»**(1 **(ووايه:** زه د خلکو رب ته، د خلکو مالک او(رېښتيني)حاکم ته پناه وړم،د خلکو برحقه معبود ته،ووايه:ای پيامره!د خلکو پروردګارته پناه وړم،( سوال کوم، ننواتي) کوم او باور کوم، ځکه چې ربوبيت يې د دې غوښتوونکی دی،چې حق تعالی ته پناه يوړل شي او سوال او دعا وشي، په **«قُلْ»** کلمه کې: مخاطب رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلی الله علیه وسلم دی،ځکه چې یو بې څارۍ لاربښود دی.او د دې مُبارک او لوړ مقام په پیروۍ سره ټول مومنان باید داسې ووایې او داسې پناه یوسي .
شیخ مفسرناصر الدین عبد الله بیضاوي وایې: « له هغه ځایه چې مخکښنې آیت کې پاک الله جل جلاله سبحان تعالی ته د جسمي زیان څخه پناه وړل دي او دا زیانونه په انسان او د هغه په غیر کې عام دي،نوپه دې سوره کې له زیانونوڅخه هغه ته پناه وړل دي چې د بشر پرنفوس عارض کیږي او بشر ته ځانګړي کیږي.
**یادونه**:په قرآن عظیم الشان کې د **"قل"** کلمه له ۳۰۰ ځله څخه ډیره ذکر شوې ده،چې ډیری یې د رسول **الله صلی الله علیه وسلم** لپاره د الله سبحان وتعالی امر دی چې د منافقیونو اومخالفینو ځواب په توګه کارول شوي.

## د مفسرینو په وینا:

دا چې **الله جل جلاله** تعالی د ټولو مخلوقاتو رب دی،خود انساني عزت په توګه په ځانګړې توګه یې ذکر کړې،ځکه چې د کائناتو ټول مخلوقات یې د انسان لپاره مسخر کړي او په حکمت او علم یې سپنکار کړي او خپلي مقدسي پرښتي یې اړې کړي دي،چې ورته سجدې وکړي،نو دوی د خدای تر ټولو غوره مخلوقات دي.
سربېره پردې،د یادوني وړ ده چې له دې کلمي جوته کیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د وحي امانت داردی او له ځانه څه نه وایي. سربېره پردې د **«قُلْ أَعُوذُ»** له جملې جوته کیږي چې خطرونه اوګواښونه دومره سخت دي چې **الله جل جلاله** تعالی خپل پیغمبر صلی علیه وسلم ته د پناه غوښتلو امر کوي او د **«أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ»** له کلمې جوته کیږي چې د الله تعالی له مرستې پرته د شر پر وړاندې مُبارزه ناشونې ده.
د مُبارکې آیې مهم یا جمعي تکي **«قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ»** په حقیقت کې دا بیانوي چې ګناهکاران په خپل ژوند کې باید ناهیلي نه شي،ځکه چې الله جل جلاله سبحانه وتعالی د ټولو خلکورب دی نه یوازې د مومنانواو همدارنګه **«قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ»** جمله موږ ته یادوي،کله چې پیامر،پاک **الله جل جلاله** سبحانه وتعالی ته پناه وړئ، بیا نوزموږ دنده روښانه او واضح شوه،انسان باید ځان د خدای ترروزنې لاندې وګنې**«بِرَبِّ النَّاسِ»**د هغه سلطنت او حکومت ومنې.
باید ووایو چې بې ایمانه خلک په خپل قدرت،نفوس،قومیت او یا هم خپل مال ته پناه وړي اونازیږي،خوهغه خلک چې پر الله جل جلاله سبحانه تعالی ایمان لري تل خپل لوی څښتن ته پناه وړي چې د وجود څښتن، پاچا او معبود دی.

## «ملك الناس»( 2):

**(پناه وړم « د خلکو مالک ته»** یعنی،هغه ذات ته چې بشپړ ملکیت لري،یو بشپړ حاکم دی او یو بې مثاله او لامحدود واکمن دی، هغه د ټولو مخلوقاتو مالک دی،په شمول د حاکم او محکوم، پشپړحاکمیت په ټولو لري، پرهغو حکم کوي،د هغوی اعمال ثبت وي او په تدبیر سره د هغوی چارې څېړي، عزت او ذلت د هغه په لاس کې دی،فقر او بې وزلي هغه ورکوي.

## «اله الناس»(3)

**پناه وړم« د خکلو الله ته»**یعني،دخلکومعبود ته له هغه ځایه چې ملک ( پادشاه، واکمن) او کله هم خدای (معبود) وي او کله هم نه وي،نولوی څښتن تعالی په دې آیه کې واضح یا څرګنده کړې چې الوهیت (معبودي) اوعبادت د هغه ذات پورې ځانګړې شوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅوك له هغه سره شريك كيداي نه شي.د **«إِلٰهِ اَلنّاسِ»:** دانسان عزت او شرف د هغه عظمت څرګندولو لپاره،درې ځلي يي **اَلنّاسِ** راوستی او دا يي ضمير پورې محدود کړی نه دی او تکرار يې نيکي يا ښيګڼه ده.د ابن کثيرمفسروايي:دا درې صفتونه **د الله جل جلاله** صفاتو ځينې دي. **«ربوبيت»، «مالكيت» او «الوهيت»** نو خدای د هر څه ښتن، پاچا اومالک دی.اوټول مخلوقات د هغه مخلوقات او مالونه دي.دهمدې له وجې د پناه غوښتنې امريې کړی، هغه ذات ته پناه يوسئ چې د دا درېو صفتونو خاوند دی. مختصر (۶۹۶/۳

**پام مو وي :**

لومړی هغه څه چې د انسان لپاره مختص او ځانګړې شوي دي،دهغه وده،تکامل او روزنه ده.**«بِرَبِّ النَّاسِ»** وروسته سياست،تدبيراوحکومت.**«مَلِكِ النَّاسِ»** اوهرڅومره چې د هغه وده زياته شوه چې همدا عبادت او بندګي ده. اود **«إِلٰهِ النَّاسِ»** په جملې کې موږ ته دا سبق را کوي،چې انسان بايد هغه چا ته پناه يوسي چې د هغه په اسراراو د هغه وسوسې چې د هغه په ځان کې دي پرې وپوهيږي .

**يَعْلَمُ خائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَ ما تُخْفِي الصُّدُورُ ـ 19 غافر»( خدای د سترګو په خيانت اوهغه څه چې په زړونو کې پټوي خبر دی.)**

**«من شر الوسواس الخناس»(4)**

**پناه وړم هغه څه چې ذکر شوي دي « د وسوسه کوونکي له شرڅخه» چې شيطان «خناس» دی.**

**«خناس»** له **«خنوس»** چې د پټولو او شاتګ په مانا ده،ځکه چې شيطان هم خپله پټ دی او هم کارونه يې،که د هغه فتنې يا وسوسې ښکاره وی،نوهغه به بيا په خلکو غالب کېدای نه شوای، خو په بهانو،ښکلوجامو او په مکرسره را څرګنديږي او بريالی کيږي.په حديث شريف کې راغلي:« شيطان د انسان پر زړه خپله پوزه ږدي،کله چې هغه خدای يادوي، شيطان بېرته ځي او کله چې **الله جل جلاله** تعالی هېرکړي، نو زړه يې ورته نيسي او د هغه په زړه کې وسوسې اچوي»**( راوي حافظ موصلی).**

اوس چې شيطان يو **خنّاس** دی،هغه د خپل ناوړه پلان د پلي کولو لپاره تر هغه پورې مخکې کېږي او شاته کېږي،ترهغې چې په خپل پلان او برنامو کې بريالی شوي نه وي، نوموږ هم بايد په خپل ژوندانه کې د **الله جل جلاله** تعالی ذکر زيات کړو.

په قرآن عظيم الشان کې پرانسانانو څو ځله نيوکې شوې دي،کله چې ناروغ يا ستونزو اوکړاوونو کې راګيرشي، نو دعا کوي او پناه غواړي،خوهمدا چې خطر ورځينې لرې شو،کړنه او حالت يې داسې کېږي، ګويا چې موږ هېڅ نه پېژني.

قرآن عظيم الشان د **(۱۱يونس په سورة)** کې فرمايي :**« وَ لَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ فَنَذَرُ الَّذِينَ لا يَرْجُونَ لِقاءَنا فِي طُغْيانِهِمْ يَعْمَهُونَ ـ 11»( او كه الله جل جلاله تعالی د خلکو لپاره په هغه چټکۍ سره لکه څنګه چې دوی د ځان لپاره خيرغواړي، پرهغوی يې په چټکه بلا راوستې وي،يقيناً د هغوی اجل رارسيده، نو موږ به هغه خلک پرېږدو چې زموږ سره د ليدو تمه (او باور) نه لري دوی به په خپلو سرغړونو کې ورک پاتې شي)**

د دې مبارک آيت مفهوم ته ورته دی، د **کهف** سورې 58 آيه او همدارنګه د **فاطر** سورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په 45 آیه کې هم راغلي، که خدای جل جلاله خلکو ته د دوی د اعمالو سزا ورکړي، دوی به ټول تباه شي**، سربېره پردې، هغه اختیار چې د تکلیف اساس دی له منځه ځي او اطاعت په بېړني اړخ بدلیږي. ښايي«اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ» مانا دا وي چې د پاک **الله جل جلاله** تعالی سنت په خیر رسونه کې سرعت وي او په شر رسولو کې مهلت ورکول او د دې جملې مانا دا وي چې پاک **الله جل جلاله** تعالی په خیر رسولو کې بېړه کوي.

## ګرانو لوستونکو!

اوس چې هغه «بِرَبِّ النَّاسِ»دی،نو موږ باید د نورو تعلیمي میتودونه ونه منو، اوس چې هغه«مَلِكِ النَّاسِ» دی،نو له ځان څخه د نورو مریه جوړ نه کړو او اوس چې هغه «إِلَٰهِ النَّاسِ» دی،نو راځئ چې خپل زړونه له هغه پرته بل څه ته ونسپارو او دا فکراوعقیده له فتنو د پناه اخیستلوغوره وسیله ده.هغه څوک چې د خلکو پر سینو،زړونو او روح وسوسه کوي،کېدای شي چې د پیریانو او شیطانانو ځیني وي یا هم د انسان ځیني،هو! وعدې او په تمه پرېښودل،نن او سبا کول د فتنې او وسوسې له لارو څخه دي .

**« الوسواس »** :وسوسه عبارت ده له پټ غږ او ورو ورو ښوځیدل .

**امام قرطبي مفسر وايي :**د شیطان وسوسه دا ده چې انسان په پټو خبرو سره خپل اطاعت ته رابولي، وسوسه د غږ د اوریدو پرته زړه ته رسیږي (د قرطبی تفسیر ۲۰/۲۶۳)

**« الخناس »: خنّاس، خنّوس** له ریښي څخه ده، چې د جنّ و انس له منځ څخه راپورته کیږي اود سازش او د غلولو لپاره د انسان په لور راځي،که پاک الله سبحان تعالی د انسان یار او ساتونکی نه وي،هغه له پښو غرځوي او وسوسه یې په زړه کې اچوي او که انسان پاک **الله** سبحان تعالی ته فریاد وکړي او مرسته وغواړي، یو دم تښتي او د یو بل فرصت تیاری نیسي.

**مفسرین لیکي** : **«وسواس»:**یعني وسوسه کوونکی، یعني د فتنې او وسوسې په هڅه کې وي، ستړیا او ستومانتیا نه لري،یعنی ستړیا هیڅ نه مني.**«خناس»:**یعني هغه دوښمن دی چې تل راځي او ځي او هرکله چې تاسو یې رټئ په ظاهر پټیږي،او کله چې تاسو ګومان کوئ چې لاړه بېرته راننوځي،د بیلګې په توګه کله چې تاسو یو څوک له یو ور نه بهر کوئ او هغه له بل ور څخه را ننوځي او د انسان په لور راځي.

د خناس رښتیني مانا راتولیدل او شاته تلل دي، چې دا کنایه ده،کله چې تاسوالله ته متوسل کیږي،د **الله جل جلاله** نوم اخلئ او **الله جل جلاله** ته ځان سپارئ،شیطان تښتي اوکله چې تاسوغافل کیږئ اود شیبې لپاره غفلت کوئ، شیطان بېرته حاضریږي؛یعنی هم حضورلري اوهم غیبیږي، په دی مانا چې ځي او راځي، شاته کیږي او یرغل کوي،نو **خناس** کې شیطان په دواړو څېرو یعنی په پټه او ښکاره راڅرګندیږي.معمولا د **خناس** کلمه د پټیدو په مانا راغلې. رښتیا غواړي ووایي، چې زه د شیطان له شر،وسوسواو شیطان چې د الله له صفت او له نوم ځیني پټیږي،**الله جل جلاله** ته پناه وړم، د شیاطینو پلان او هڅه همدا ده، چې د انسان له بې غورۍ ځنې ګټه اخلي او همدا چې انسان غافل شي، هغوي را پیدا کیږي او انسان چې ویښ او هوښیاریږي اوالله سبحان تعالی ته پناه وړي اوالهي آیاتو ته مخه کوي، نو هغوی غیبیږي او د الهي کلام مخې ته درېدی نه شي، نوانسان باید تل د ایمان او نیک عمل په قوت او په اړینو امکانتو درلودو سره د دوکه بازانو د دسیسو او چلونو په مخ کې تیار ولاړ وي او بی غوري او غفلت ونه کړي ترڅو د وسوسه کوونکو په لومه کې ونه نښلي او که نه دا ناپاکه وسوسه کوونکي او انساني

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفتي موجودات هغه به له مینځه یوسي.**«خناس»:**دروغجن دوست اوملګری،غداراوبې وفا ملګری،دزماني وینه خوړونکی، ظالم لاربنود،مفسد او نور، چې په بېلابېولارو خلک ځوروي، دوکه کوي،په چال سره، په حیله، په دروا‌غو،په سِحر،په دوکه،په مکر،په بېځایه خبرو،دهر رازمالي،تولنیز،انساني،قومي،ملي او مذهبي حقوقو د پښو په لاندي کولو سره ورو ورو د درواغو چت پورته کوي او په خپلو وسوسو سره خلک د بربادۍ په لور وړي او کندې کې یې غورځوي.

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:**دهرانسان په زړه کې یوکوردی،چې دوه خوني لري، پرښتي او په بل کې شیطان اوسیږي. (**پرښته هغه انسان نیکوکارونو ته هڅوي او شیطان بدو کارونو ته**) نوهرکله چې یو انسان د الله تعالی په ذکر کې بوخت شي،شیطان شاته کیږي او هر کله چې د الله سبحان تعالی له ذکرغافل شي،نود انسان پر زړه خپله مښوکه ږدي او بدې وسوسې راپاروي.**(رواه ابویعلی عن أنس مرفوعة، مظهری).**

**« الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ» (5) :**

**«هغه کس چې د خلکو په سینه کې وسوسې اچوي»** ( د **«وسواس»** کلمه په دی آیه کې هم د وسوسه کوونکي په مانا راغلي او هم د ناروا ذهنونو د خطر په مانا،خو دلته د وسوسه کوونکي په مانا ده)سره له دې چې وایي:**« مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ»**،د شیطان د کړني حکایت کوئ،خوموکدشوي په**« الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ»** او**«يوسوس»** فعل مضارع دی **(یعنی حال زمان )** مضارع فعل تل د هغه پرعمل ټینګار کوي چې تل د انسان په وسوسو بوخت دی او د خلکو پرسینو واکمن کیږي،خو کېدای شي چې په ظاهر کې هغه ونه وینئ،یا په فزیکي توګه د هغه شتون احساس نه کړئ،خود انسان دننه په زړه کې په وسوسو او په فتنه اچولو بوخت وي.

**یادونه:« الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ»**په جمله کې د هغه شتون د انسان په سینه کې داسي نه ده چې له هغه د تېښتي لار نه وي.

ځکه چې قرآن عظیم الشأن **( 201 آیه اعراف په سوره ) کې فرمایي: «إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُمْ مُبْصِرُونَ» کله چې شیطانان پرهیزګارو خلکو خواوو ته د اړیکي له لارې هغوی وسوسه کوي، نو دوی پوهیږي او اجازه نه ورکوي چې پر هغوی واکمن شي.**

دلته باید په دې حقیقت پوه شو چې وسوسه د شر د پیل نقطه ده او کله چې غافل یا خالي ذهن انسان خپل اغیزې لاندې راولي.لومړی د هغه په زړه کې د بدوهېلو هوس راپاروي، د ډېرو وسوسو اچولو وروسته هغه بده هېله یویې ټینګې ارادې ته اړوي،چې د بد عمل وروستۍ پایله ده،نو مانا او مفهوم د پناه غوښتلوداد دی چې الله سبحان تعالی ته پناه یوسي چې **الله جل جلاله** په پایله کې دا شر له منځه یوسي.

**«من الجنة و الناس»(6):**

په دې مُبارک آیت کې څه له پیریانو(جن،جنیات،)او څه د انسانانو **(انس)** ښځه وي،خو په اصل کې تعبیر وسواس(جنون) دی،یعنې فتني**( وسواس)** کله له جنیاتو( جن،پیریانو) او کله له انسانانو**( انس)** ښځه وي.شیاطین او پیریان (جن) (لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه)د خلکو په زړونو په سینو کې وسواس اچوي، خو د خلکو په زړونو کې د انساني شیطان وسوسه داسې وي چې د انسان لپاره د یو نصیحت کوونکي لاربنود په څېره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګندیږي او ځان زړه سواندی ښه يي،نو د هغه ویناوې چې خیرخواهي ښه او نصیحت ښه لري، د پیریانو د وسوسو په څېر د انسانانو په زړونو کې اچوي.

**ربښتیا!** ابلیس څنګه چې د انسان په زړه کې وسوسه اچوي،د پیریانو په زړه کې هم وسوسه اچوي د**«من الجنة و الناس»**پایله او عمومي پوهه دا ده چې خدای خپل رسول ته لاربښوونه وکړه.د پیریانو (جن) د بدۍ له شراو د انساني شیطانانو د بدۍ له شر پاک **الله جل جلاله** ته پناه یوسئ.که د چا په زړه کې دا شک را پیدا شو چې دا خو څرګنده ده چې د( الجن) یعني وسوسې زیږنده د شیطان لخوا ده،چې د انسان په زړه کې د یو پټ کلام په څیر زیږوي،خو**(الإنس)** انساني شیطان علني مخامخ راځي او غږیږي.

دا وسوسې سره څه تړاو لري؟ځواب یې دا دی چې **الإنس** شیاطین ډېر داسې هڅه کوي، چې خپله خبره یا کلام داسې څرګند کړي چې یو کار یا معامله کې د مخاطب په زړه کې شک یا دوه زړه توب را پیداشي او هغوی دا خبره په واضح ډول نه کوي.

شیخ عزالدین بن عبدالسلام په خپل کتاب **«الفوائد في مشکلات القرآن»** کې وایي:

مقصود د **الإنس** شیاطینو وسوسو څخه خپله د انسان نفس دی،ځکه!لکه څنګه چې شیطان د انسان په زړه کې د بدو اعمالوارمان اچوي،د انسان نفس هم بدو اعمالو لپواله کیږي،نوځکه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ښودله چې د خپل نفس له شره پناه وغواړئ.په حدیث کې ذکر شوي، **«اللهم اني اعوذ بك من شر نفسي و شر الشیطان و شرکه»** خدایه! زه له تا د خپل نفس له شر او د شیطان له شر او شرک څخه پناه غواړم.

دا مطلب باید دلته اضافه شي چې د قرانکریم د آیتونو له مخې شیطان د پیریانو له کورنۍ څخه دی او پیریان هغه مخلوق دی چې زموږ له حواس ځیني پټ دی.

نو دا طبیعي شوه چې شیطان د پیریانو له ډلې څخه دی او عسکران یې هم پیریان دي، خوپه دې صورت کې چې په دې مُبارکه سوره کې خدای تعالی موږ ته د انسان له نسل څخه د شیطان په اړه خبرې کوي او فرمايي:**«مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ»**،دا د څه مانا ده؟ دا پدې مانا ده، که چیرې یو انسان د شیطان تر کنټرول لاندې راشي، نوهغه به په حقیقت کې له شیطانانو وي. دا شیطان ته نوره مهمه نه ده چې د هغه سرتیري د هغه په څېر یو ډول او یو جنس څخه وي،هغه دې له جنتیانو څخه وي،ځکه چې د هغه په واک کې د پیریانو لښکر دی،اند کولی شي چې ځیني انسانان خپلې ولکې او خپل تګ لارې ته راسم کړي او له هغوی د ګډوډۍ،انحراف په توګه کټه واخلي .

موږ باید له **الله جل جلاله** څخه پناه وغواړو،له هغو مُنحرف کوونکوعواملوڅخه چې زموږ په شاوخوا کې دي،که دا زموږ د خپلو نوعو څخه وي یا د مخلوقاتو په ښه چې موږ یې نه وینو،خو موږ یې په خپل( روح او روان) ذهن او روح کې د دوی وسوسې احساس کوو. **پرانسان د شیطان د سپارلو( ګومارلو) دلیل:**

مُفسرین په خپلو تفاسیرو کې پر انسان د شیطان د تاکلو علت په اړه لیکي:

د الله سبحان وتعالی لخوا پرانسانانو د شیطان ګومارل د دې لپاره دي،چې خلک له هغه سره مُبارزه وکړي، ترڅو د ازمایښت په ډګر کې وازمایل شي،خو هغه کسان چې پاک الله سبحان تعالی خپل په پناه کې راوستي دي په امن او امان کې دي. لکه څنګه چې په دې حدیث شریف کې راغلي: **«په تاسو کې داسې څوک نشته چې پرهغه (شیاطینو څخه) ملګري ورته ټاکل شوي نه و**، صحابه کرامو وویل:اند پرتاسوهم یا د خدای رسوله!؟ وی فرمایل: هو!اند پرما هم،خو حقیقت دا دی چې الله سبحان وتعالی زه پر خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیطانانو باندې غالب کړی یم،نوهغوی ماته تسلیم کړل شوي(یا مسلمان شوي)نوهغوی ماته د خیر پرته هېڅ امر نه شي کوی.

همدارنګه په حدیث شریف کې د انس رضی الله عنه څخه روآیت دی:رسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې اعتکاف کاوه،نو د شپې له خوا ام المومنین صفیه رضی الله عنها لیدو ته یې راغله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې سره له جومات څخه بهر شو چې هغه کور ته بوځي. په همدې وخت کې د آنصارو دوه سړي له هغه سره مخامخ شول او کله چې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید،دوی خپل ګامونه ګړندي کړل،ترڅو ګړندي تېر شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته په خطاب کې وویل:«تم شئ!دا ښځه چې ما سره وینئ صفیه د حیي لور او زما مېرمن ده »هغو دواړو وویل:سبحان الله یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ( آیا موږ ستاسو په حق کې بد ګومان وکړو؟!)رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**«إن الشیطان یجری من ابن آدم مجری الدم و إنی خشیت أن یقذف فی قلوبکما شیئا ـ أو قال ـ شرا»**«بې شکه شیطان د آدم د اولادې په وینه کې بهیږي،او زه وېریدم چې دوی به ستاسو په زړونو کې څه راولي (واچو).

همدارنګه په حدیث شریف کې له **انس بن مالک (رض)** روایت دی:رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« په حقیقت کې شیطان خپل مهارت د بني آدم په زړه کې اچوي،نو که هغه **الله جل جلاله** یاد کړي هغه بېرته ځي او که د الله تعالی یاد یې هېر کړ،د هغه زړه خپلې ولکه کې راولي،نودا هماغه وسواس خناس دی «همدارنګه په یو بل حدیث شریف کې د **ابي تمیمه (رض)**له قوله راغلي او فرمایي:«درسول الله صلی الله علیه وسلم خروښوییده،ما وویل: شیطان دی ښکته وغورځیږي!رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مه وایه! چې شیطان دی ښکته وغورځیږي،ځکه کله چې ته داسي ووایې،خپل ځان پورته ګڼي او وایي:هغه مې په خپل قوت ښکته وغورځوه،خو که ووایې چې بسم الله: د خدای په نوم، هغه دی چې شیطان خپل ځان وړوکی حسابوي، لکه د مچ پشان کیږي»**ابن عباس رضي الله عنه** وایي:هېڅ ماشوم تر هغه وخته نه پیدا کیږي، چې په زړه کې یې وسواس نه وي، نو کله چې الله جل جلاله یاد شي،شیطان وتښتي او کله چې د الله تعالی له یاد ذکر څخه بې برخې شي، نو بیا فتنې وسوسې زیږوي.»

## په الناس سوره کې د خدای (ج) درې صفتونه :

په الناس سوره کې د الله سبحان وتعالی درې ستر صفتونه **(ربوبیت، مالکیت او الوهیت)** بیان شوي چې دا ټول په مستقیم ډول د انسان ښوونې، روزنې او وسوسو، فتنو له منګولو څخه ژغورنې سره تړاو لري.

البته له الله سبحان وتعالی د پناه اخیستلو مانا دا نه ده چې انسان دې یوازې په ژبه دغه جمله ووایي، بلکې په خپل فکر،عقایدو اوعمل سره دې پاک الله سبحان تعالی ته پناه یوسي.د شیطاني لارو، شیطاني پروګرامونو، شیطاني افکارو، تبلیغاتو، شیطاني مجلسونو او محفلونو حلقو ځان لرې کړي او په خپل افکارو کې رحماني تبلیغات ځای پر ځای کړي او که انسان په عملي توګه خپل ځان شیطاني وسوسو سره مخامخ کړ، نو بیا یوازې د دې سورې په ویلو او د دې ټکو په ویلو چېرته نه رسي، خو د **(رب الناس)** په ویلو سره د الله رب العزت اعتراف کوي او خپل ځان د هغه تر سرپرستۍ ( روزنې) لاندې نیسي. د **"ملک الناس"** په ویلو سره خپل ځان د هغه ملکیت ګڼي،داسې بنده یې ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هر حکم يې مني او د **«اله الناس»** په ويلو سره د هغه د عبادت په لاره کې خپل پل ږدي او له هغه پرته د بل چا له عبادت ډډه کوي، بې له شکه، څوک چې په دې درېيو صفتونو ايمان ولري او په دې درېيو صفتونو ځان سمبال کړي،هغه به د فتنه ګرو له شره په امن کې وي، په حقيقت کې دا درې صفتونه يا اوصاف درې مهمې روزنيزې زده کړې دي،دمخنيوي لپاره درې بنسټيزپروګرامونه او د فتنو له شر د خلاصون درې وسيلې دي .

**په دې سوره کې د بحث وړ موضوعات:**

هغه موضوعات چې په دې سوره کې د بحث وړ دي،**استعاذه** او پاک الله جل جلاله سبحان تعالى ته پنا وړل دي.

**د استغاثې تعريف:**

استغاثه د ستونزو سختو حالت کې د مرستې غوښتو په مانا ده.

**د استغاثې ډولونه:**

**استغاثه په دوه ډوله ده.**

**الف: استغاثه د نړۍ په اسبابو کې**

د نړۍ په اسبابو کې استغاثه دا ده چې د ځاري په توګه کله چې انسان سختيو سره لاس او ګريوان کيږي،په دې حالت کې انسان د هغه مخلوق څخه د مرستې غوښتنه کوي چې د مرستې توان او امکان لري. هغه خلک چې د مرستې توان او امکانات لري، له هغوى مرسته غواړي،دا مرسته غوښتنه په خيريه او بدو دواړو امورو کې پېښيږي.الله جل جلاله سبحان تعالى فرمايلي:**«وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ»:** «په نيکى او تقوا کې له يو بل سره همکاري وکړئ او په ګناه او خيانت کې له يو بل سره مرسته مه کوئ. »

**ب: استغاثه د لوړ يا پورته نړۍ اسبابو کې:** ( مافوق عالم اسبابو کې)

استغاثه د لوړيا پورته نړۍ اسبابو کې( مافوق عالم اسبابو کې )دا ده چې په هغه کې انسان د هيڅ کوم کار توان ونه لري،له همدې امله، يو مومن سړى د الله تعالى دا غوښتنه کوي،لکه د اسلام د ګران رسول، د نړۍ په اسبابو کې لښکر تيارکړاو بدرجګړې ته لاړ،خو ځکه چې د هغوى شمير لږ وو،نو د پاک الله سبحان تعالى بارګاه ته يې استغاثه وکړه ، تر څو يوځ يې فاتح او بريالى کړي.

**«إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلآئِكَةِ مُرْدِفِينَ»**(انفال سوره(۹):

**په ياد راولئ)هغه وخت چې تاسو خپل رب په چيغو راغوښته،نو ستاسودعا يې قبوله کړه چې زه به د زرګونو پرښتو پرله پسې راليکولوسره تاسو سره مرسته (ياري) وکړم«.صحيح مسلم له عمر بن الخطاب رضي الله عنه** روايت کوي: د بدر په ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم مُشرکانو ته وکتل چې شمېر يې زر تنه وو او د هغه ملګري ۳۱۳ کسان وو، رسول الله صلى الله عليه وسلم به قبلې ته مخامخ ودريد، بيا به يې لاسونه اوږد کړل او خپل رب ته به يې دعا وکړه:**«اللَّهُمَّ أَنْجِزْ لِى مَا وَعَدْتَنِى اللَّهُمَّ آتِ مَا وَعَدْتَنِى اللَّهُمَّ إِنْ تَهْلِكْ هَذِهِ الْعِصَابَةُ مِنْ أَهْلِ الإِسْلاَمِ لاَ تُعْبَدْ فِى الأَرْضِ» ( دحديث شمېره 4687 صحيح مسلم):**

**امام بخاري** روايت کوي چې **ابن عباس رضي الله عنه** وايي، (د بدر په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د یوه سیوري لرونکي چتر لاند ولاړ و او وې فرمایل:« یا الهي! زه له تا غواړم چي په خپله ژمنه وفا وکړې، که دا د مومنو ډله نن دلته له منځه ولاړه په څمکه کې به نور څوک ستا عبادت ونه کړي».دلته ابوبکر صدیق د رسول الله مُبارک لاسونه ونیول او ویې ویل: اې د خدای رسوله! تاسو خپل رب ته ډېر ټینګار وکړ، بس دی.

رسول صلی الله علیه وسلم چې زغره اغوستې وه، د باندی راغلی او وې ویل:« **سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ»: دا په دې مانا ده چې ډېر ژر به د دوی لښکر مات شي او دوی به شاته وګرځي او وبه تښتي. خو د دوی برخلیک قیامت دی او قیامت تر ټولو لوی او تریخ مصیبت دی.**

**امام طبراني** روایت کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یو منافق و چې خلکو ته به یې عذابونه ورکول، ځینو خلکو وویل چې موږ باید رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګ ته ولاړ شو، ترڅو د دې منافق له لاسه استغاثه وکړې. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماته جایزه نه ده چې استغاثه وکړم، خو پاک الله ته استغاثه کیداي شي.**(و روى الطبراني بإسناده عن عبادة بن الصامت أنه كان في زمان النبي - صلى الله عليه وسلم - منافق يؤذي المؤمنين، فقال بعضهم فقوموا بنا نستغيث برسول الله - صلى الله عليه وسلم - من هذا المنافق، فقال النبي - صلى الله عليه وسلم: (إنه لا يستغاث بي، و إنما يستغاث بالله)**

**استعاذه (پناه غوښتل یا وړل):**

الله جل جلاله سبحان تعالی مسلمانانو ته لاربنوونه کړې چې تل له الله جل جلاله سبحان تعالی پناه وغواړئ.**(فاستعذ بالله) (قل اعوذ برب الفلق) (قل اعوذ برب الناس)** نو د همدې لپاره کله چې مسلمان پناه غواړي نو وایي: **(اعوذ بالله من الشیطان الرجیم)** د الله جل جلاله پیغمبرانو هم الله جل جلاله ته پناه وړې ده. **«أعوذ بالله أن أكون من الجاهلين»** پاک الله ته پناه وړم، ترڅو د جاهلانوله ډلې ونه اوسم. **(البقرة سوره: 67)** **«وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ»** او زه خپل رب او ستاسو له رب پناه غواړم، له دې نه چې ما په تیږو ووهې. )

**الدخان سوره : 20) معاذ الله (یوسف سوره : 23) «ربنا ظلمنا انفسنا و ان لم تغفر لنا وترحمنا لنكونن من الخاسرين»** دوی وویل....او قرآن موږ ته دا رجوع یا حواله بیانوي، ولې!؟ ځکه چې موږ هم د هغوی اولاده یو، نو د بنویبدو یا د ولیدو په وخت کې باید له الله جل جلاله سبحان تعالی څخه پناه وغواړو. **ابراهیم (ع)** چې د پیغمبرانو پلار دی، هغه هم د اړتیا په وخت کې د خدای دربار ته رجوع کوله. **«رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ».**

حضرت **عیسی علیه السلام** هم د خدای دربار ته دعا وکړه او وې ویل: **«ربنا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيداً لِّأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِّنكَ وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ» (سوره المائده/ ایه 114)**

حضرت **موسی علیه السلام** هم خپلې ستونزې او دردونه د خدای دربار ته وړاندې کوي.

**:«وَقَالَ مُوسَى رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالاً فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَلاَ يُؤْمِنُواْ حَتَّى يَرَوُاْ الْعَذَابَ الأَلِيمَ» (سوره یونس/88)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د قریشو د مُشرکانو د پناه غوښتلو عادت:**

د اسلام د ګران رسول (صلی الله علیه وسلم) له راتګ مخکې په هغه زمانه کې داسې کسان وو،چې

-1پیریانو ته یې پناه وړه **«وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا» (الجن سوره 8/ (د انسانانو نارینه وو د پیریانو نارینه وو ته به یې پناه یوړه او د هغوی بغاوت ( سرکشی) به یې ډېروله)**

-2ځینومُشرکانوخپلونیکوخلکو لکه لات،منات،هبیل او داسې نورو مجسمو ته پناه وړله.

-3د حبشي ځینو مشرکانود خپلو نیکو خلکو قبرونو ته به یې پناه یوړله او له هغه ځایه به یې خپل عبادت ځای جوړ کړ.

-4ځینو مُشرکانو به ونو ته پناه وړله او هغه به یې مُبارکه ګڼله **«فعن أبي واقد الليثي قال: «خرجنا مع رسول الله (صلى الله عليه وسلم) إلى حنين ونحن حدثاء عهد بكفر، وللمشركين سدرة (اغزي لرونکي ونو ته یې وایي.) يعكفون عندها وينوطون بها أسلحتهم، يقال لها ذات أنواط، فمررنا بسدرة، فقلنا: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم اجعل لنا ذات أنواط كما لهم ذات أنواط، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الله أكبر، إنها السنن، قلتم والذي نفسي بيده كما قالت بنو إسرائيل لموسى: «اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ» (سوره الأعراف: 138)، لتركبن سنن من كان قبلكم» (سنن الترمذي تحت شميره (2180)** او ویلي دي چې دا حدیث صحیح دی)

-5ځینو به مهرو،لرګیو،تیږو، تار او داسې نورو څېزونو ته پناه وړله او د نظر بندښت لپاره یې له داسې شیانواستفاده کوله، دا ټولې زده کړې د دې لپاره دي چې انسان د ستونزو پر مهال پاک الله سبحان تعالی ته پناه یوسي،بې بي مریم چې یوه پاکه او خدای پرسته ښځه وه،د ملایکې د لیدو پر مهال چې لومړی ځل یې نه پیژني وایې:**«قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَن مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيا»**(مریم سوره 18/ » **(مریم) هغې وویل: که پرهیزکار یې، نو زه به له تا څخه له لوی مهربان خدای نه پناه وغواړم**«اوس دا پوښتنه را پیدا کیږي، آیا داسې خلک شته دي چې د پاک الله جل جلاله سبحان تعالی د پناه غوښتلو پرته نورو خلکو ته هم پناه وړي؟

هو! داسې کسان شته دي،چې په قرآن ایمان نه لري، توحید د دوی په زړونو کې نه دی ځای شوی، له بلې خوا، قرآن پخپله د مُشرکانو په اړه وایي: له الله جل جلاله سبحان تعالی پرته ( یا پر ځای یې) به یې نورو خلکو ته پناه وړله... د قرآن کریم آیتونه د پیریانو له ژبې موږ ته داسې وایي چې (جن) پیریانو ویلي : **«وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا» (الجن سوره 8/ (د انسانانو نارینه وو د پیریانونارینه وو ته به یې پناه یوړه او د هغوی بغاوت ( سرکشی) به یې ډېروله)**

او پخپله یې ویلي چې دغو کسانو چې پیریانو ته پناه وړله، پرته له دې چې دوی ته خپګان پیدا کړي،بل څه یې نه کول. په نني عصر کې هم داسې کسان شته دي چې سِحرګرو( فال بین ) ته ځي او پناه غواړي او همدا فالبین او ساحر هغوی جن یا پیرانو ته د پناه اخیستلو لپاره مخکې کوي،په تعویذونوکې د جنیاتو نومونه لیکي او شیطان هم پیری و. **« إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ» (سوره كهف/29)** له همدې امله، دوی په نوو تګ لارو د هغو کسانو کړنې تکراروي چې قرآن یې په بده یاد کړي دي، نورو بنو او ډولونو په لارو هوارو سره .نن ورځ داسې کسان شته چې خلکو ته پناه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړي، ټول قرآن ولولئ، د قرآن په یوه پاڼه کې هم نشته چې یوه پیغمبر پرښتو ته پناه وړي وي، یا دا چې یوه پیغمبر خپل پخواني پیغمبر ته پناه وړي وي، یا د قرآن کریم یو آیت حکم کړی وي چې د ستونزو پرمهال یو انسان څخه پناه وغواړئ، خو له بده مرغه نن سبا ډېر داسې خلک شته چې مخورو خلکو ته پناه وړي. دا سمه ده چې دا خلک ستر شخصیتونه دي، خو د مصیبت په وخت کې دوی ته پناه وړل د ټولو پیامبرانو دعاګانو پر خلاف عمل دی، د **اعوذ بالله** په خلاف کار دی، موږ که د شیطان له شره پناه غواړو، نو پاک الله جل جلاله سبحان تعالی ته پناه وړو، په هغه شان چې تیرو پیامبرانو تل الهي بارګاه ته پناه وړله، که موږ له درد او کړاو پناه غواړو، یوازې د خدای (ج) دربار ته رجوع کوو او د پیغمبرانو په څېر( ربنا) وایو.

**د انسان دوه دوښمنه،انس او جن او هغوی سره د مبارزې لار:**

علماء وایي،د انسان دوښمن، بل انسان او یا د انسان دوښمن شیطان کېدای شي،زموږ با عظمته رب د دوښمن سره د مبارزې، مقابلې او د دوښمن د ارامښت په اړه په لویوالي سره داسې ټکو ته لکه: ښه اخلاق،نرمښت ملایمت،له غچ اخیستلودډه کول او له حوصلې کار اخیستلو ته لارښونه کړې او که په تدبیر تګلارو سره له دوښمني څخه یې لاس وانخیست، بیا هماغه د جهاد لارې او مقابلې ته یې امر کړی، خو یوازی او یوازی شیطاني دوښمن سره د مقابلې لپاره هماغه استعاذه له الله سبحان تعالی پناه غوښتو سپارښتنه شوې.

**ابن کثیر** د خپل تفسیر په سرېزه کې د دې موضوع په اړه د قرانکریم درې آیتونه لیکلي، چې په کې د دغو دوو دوښمنانو یادونه شوې.له دوښمن د خلاصون لپاره دا لارښونه شوې چې له غچ اخیستلو ډډه وشي، له ښو اخلاقو کار واخیستل شي او د دوښمن له شر څخه د استعاذې غوښتلو خبر ذکر شوی.

ابن کثیر ویلي، په ټول قرآن کې د دې موضوع په اړه درې آیتونه راغلي: یو دا **«خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ» (سوره اعراف آیه 199)** دا تدبیر یا اقدام د ښه کار کولو او د بدی له پامه غرځولو په مانا ده .

بیا یې د شیطان دوښمن په اړه یې وویل: **«وَإِمَّا ينزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيطَانِ نَزْغٌ فَاستَعِذْ بِاللّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» (سوره مؤمنون آیه 96)** او د دې کار پایله له خدای (ج) پناه غوښتل دي. دویمه آیه، لومړی یې د انساني دوښمن د درملنې په اړه ویلي: **«ا دْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ لسَّيئَه» (سوره مؤمنون آیه 96)** یعني بدئ په نیکئ سره دفع کړئ، بیا یې د شیطان دوښمن په اړه ویلي: **(وَقُلْ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ (97) وأعوذ بك رب أن يحضرون) (سوره المؤمنون آیات 97 و98)** یعني اې زما ربه! زه تا ته د شیطانانو له حملو او زما پر وړاندې له حاضرېدو پناه غواړم.

دریېمه آیه کې د انساني دوښمن د دفاع په اړه ویلي: **«ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِي حَمِيمٌ» (سوره فصلت آیه 34)** یعني د بدئ مقابله په خیر سره وکړئ او که داسې وکړئ، نو وبه ګورئ چې دوښمن به مو ستاسو مخلص او دوست وي. بیا یې د شیطاني دوښمن سره د مقابلې په اړه ویلي: **«وَإِمَّا ينزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيطَانِ نَزْغٌ فَاستَعِذْ بِاللّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» (سوره فصلت آیه 36)** دا ټکي څه ناڅه د اعراف سورې پخیر دي چې راغلي، پایله دا ده چې له دې سره د مقابلې لپاره پرته له استعاذې بله لاره نشته. په دې دریو آیتونو کې د انساني دوښمن درملنه ده، ښېنه،ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلاق وربنودل شوي، ځکه چې دا د انسان په طبیعت کې نغښتي چې هغه په ښه اخلاق او په مهرباني ماتیږي او هغه کسان چې خپل واک یې له لاسه ورکړی، روح یې شیطاني شوی، د دوی درملنه په بل آیت کې د جهاد، قتال په بڼه ښودل شوې، ځکه دوی ښکاره دوښمنان دي او دوی په ښکاره وسلو سره مخې ته راځرګندیږي، له همدې امله، د دوی ځواک په زور سره له منځه وړل کېدی شي، د لعنت شوي شیطان په خلاف چې په طبیعي توګه بد دی،ښېنه او مهرباني په هغه هېڅ اغېزه نه لري، ترڅو هغه خپل شر څخه خلاص نه شي اودا ناشوني ده چې په روښانه توګه ورسره جهاد یا مُقابله وشي، دا دوه ډوله نرم او ګرم اقدامات یوازې د انساني دوښمنانوپروړاندې د کارور کېدی شي، شیطان سره د مُقابلې پروړاندې ګټور نه دي، نو یوازې د هغه درملنه دا ده چې انسان له خدای (ج) پناه وغواړي او د الله جل جلاله سبحان تعالی پر ذکر بوخت شي چې په ټول قرآن کې پرې بحث شوی او قرآن پرې ختم شوی دی.

## شیطان ولې خانس ونومید؟

لغوین د «خنّاس» کلمې په اړه لیکلي، «خناس» د مبالغې صیغة او د «خنوس» له مادې اخیستل شوې چې دا د راټولولو(غونډېدو، جمع کېدو) او بیرته تګ ( یا شاته ټګ) په مانا ده، د همدې لپاره شیطان«خرس» ونومېد، ځکه کله چې د خدای (ج) نوم اخیستل کیږي یا یادیږي شیطان شاته کیږي یا ځان ګوښه کوي.

علماء وایي، د خناس لقب شیطان ته له دې امله ورکړل شوی چې په دوامداره توګه انسان وسوسه کوي، خو همدا چې انسان الله جل جلاله سبحان تعالی یاد کړي، بیا ځان یو ځای کې پټوي، خوهمدا چې انسان د الله جل جلاله سبحان تعالی له ذکر غافل شي، شیطان راڅرګندیږي او د خپل خناس پر دنده پیل کوي.

## د خناسانوډلې:

په دې اړه «وسوسه کوونکي یا خناس» یوازې یوه ټاکل شوې ډله ده یا که په انسانانو کې خنانسان شته دي او که دا ډله پیریانو کې هم شته؟ په ځواب کې باید ووایو، د خناسان په یو ډله یا په یوه جامه کې نه دي، بلکې خناسان د پیریانو او انسانانو تر منځ هره خوا پراته دي، خناسان په هرو جامو او هره ډله کې موندل کېدی شي، په مختلفو جماعتونو او مختلفو جامو باندې د دې ډلې وپشل شوي، موږ انسانانو ته دا سبق راکوي چې موږ باید د دوی له دسیسو او پلانو خبر واوسو او له دې ټولو شرونو خدای (ج) ته پناه یوسو .

## شیطان او د هغه ولکه( کنترول) پر انسان:

ډېری وخت د انسان په ذهن کې دا پوښتنه پیدا کیږي چې زموږ لوی څښتن تعالی څنګه داسې یو مخلوق پیدا کړی چې د پیدایښت له پیله له انسان سره دوښمني لري؟ دا چې د هغه له شر خلاص شو، ولې هغه له منځه نه وړي او نه یې ختموي؟د دې پوښتنې په ځواب کې قرآن کریم د اعراف سورې په ۲۷ آیت کې څه ښکلی ځواب ورکوي او وایي:**« که څوک ووایي: چې خدای جل جلاله څنګه پر انسان داسې ځواکمن دوښمن واکمن کړی، داسې دوښمن چې د قدرت توازن یې ورسره یوشان نه دی، هغه هر چیرې چې وغواړي ځي پرته له دې چې څوک یې د هغه شتون احساس کړي.»** آن د ځینو روآیتونو له مخې، دا د انسان په بدن کې داسې حرکت کوي، لکه په رګونو کې چې وینه جریان لري .آیا دا د خدای جل جلاله له عدالت سره مطابقت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې پوښتنې په ځواب کې خدای (ج) فرمايي:**« موږ شياطين د بې ايمانه خلکو په سر ځارونکي، ساتوونکي واکمن کړي.»(إنّا جَعَلْنَا الشَّياطينَ أَوْلِياءَ لِلَّذينَ لايؤْمِنُونَ)**. يعني هېڅكله د هغو خلكو روح او زړه ته د ننوتلو اجازه نه وركول كيږي چې د منلو لپاره يې چمتووالى نه وي اعلان كړى، يا په بل عبارت ليكل شوي آيه كې دا پوهه روښانه كوي چې: لومړني ګامونه د انسان لخوا اخيستل كيږي او د شيطانانو لپاره د انسان بدن ته د ننوتلو اجازه پخپله د انسان لخوا صادريږي، دا پدې مانا ده چې دا دښمن دى چې شيطان ته د ننوتلو اجازه وركوي، د انسان له خوښې وروسته، شيطان د انسان د روح حدودو ته د رسېدو لپاره وسيله لټوي او هغه په بشپړه توګه خپله ولكه كې راولي او هغه يو شمير كسان چې شيطان ته د ننوتلو اجازه نه وركوي، شيطان دا توان نه لري چې داسې كس ته ننوځي. زموږ لوى څښتن تعالى په دې اړه فرمايي: **«إِنَّما سُلْطانُهُ عَلَى الَّذينَ يتَوَلَّوْنَهُ وَ الَّذينَ هُمْ بِهِ مُشْرِكُونَ»« د شيطان واكمني پر هغو كسانو باندې ده، چې له هغه سره مينه لري او هغه يې د خپل روزونكي په توګه ټاكلى دى او هغه څوک چې د هغه عبادت كوي**. د **« نحل په « سوره » 100** مه آيه كې لولو: همدارنګه 42 مه آيه **«حجر»** په سوره كې بيا دا مساله راپورته كوي: **«إِنَّ عِبادي لَيسَ لَکَ عَلَيهِمْ سُلْطانٌ إِلاّ مَنِ اتَّبَعَکَ مِنَ الْغاوينَ»** (**ته به زما په بنده ګانو باندې حاكم نه شې، مګر په ګمراهانو باندې چې ستا پيروي كوي**.) په دې كې شك نشته چې موږ شيطان او د هغه نوكران نه وينو، خو هوښيار او بيدار خلك په دې پوهيږي چې څنګه د شيطان له فتنو او شر سره مبارزه وكړي او څنګه يې د نفوذ مخه ونيسي.

## د ګمراهانو توبه نه قبليږي:

**»توبه»** او «توب» په لُغت كې رجوع او د بېرته راستنيدو په مانا ده.

راغب په خپل قاموس كې ليكي: **«توب»** دا په دې مانا ده چې ګناه په خورا ښكلي ډول پرېښودل شي او دا د ښښي غوښتنو ترټولو څرګند ډول دى، ځکه چې ښښه غوښتنه په درې ډوله ده، يا يو ښښه غوښتونكى وايي، هغه كار مې كړى نه دى يا وايي، هغه كار مې كړى، خوزما ( موخه، قصد، نيت، مراد، منظور) مې دا وه او يا دا چې وايي، ما هغه كړى، خو ما دا بد كړي او زه به يې بيا تكرار نه كړم، په شريعت كې وروستني ډول ته توبه ويل كيږي.

## توبه په اصطلاح كې:

توبه يوه عربي كلمه ده، د شريعت په اصطلاح كې له ګناه راستنېدل او پرېښودل دي.( راغب) ليكي:« په شريعت كې د توبې مانا د ګناه پرېښودل دي، ځکه چې دا بد كار دى، په تېرو وختونو كې پښيمانه كېدل او د ګناه د پرېښودو او اصلاح كولو پرېكړه كول دي.

## ګرانو لوستونكو!

لكه څنګه چې د توبې له لغوي او اصطلاحي پوهې جوته شوه، په حقيقت كې توبه د زړه پښيماني ده، دا پښيماني نه يوازې په زړه كې د پرېكړې، ارادې د نيولو په مانا ده، بلكې دا پرېكړه او ايراده بايد د انسان په اعمالو كې په ښكاره توګه په ظاهر كې وليدل شي او وروښودل شي. په دې حالت كې ترټولو مهم عمل د واجباتو ترسره كول او د محرّماتو (ممنوعاتو) پرېښودل دي، په دې كې شک نشته دى چې زموږ لوى څښتن تعالى د هغه چا توبه قبلوي چې د زړه له تله په خپل ناحقه عمل پښيمانه وي او هغه هڅه وكړي چې جبران شي،د دې لاسته راوړلو وسيله په عمل كې ښودل دي، د دې امر پرځاى كولو لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اړیکو وسیله په عمل کې ښودل دي.قرآن کریم فرمایلي، د هغه چا توبه قبلیږي چې د زړه له تله توبه وباسي او د ځان د اصلاح هڅه وکړي، د خدای له لوري ځواب ورکول کیږي. یعنی د الله جل جلاله سبحان تعالی له لوري قبلیږي **«اِلاَّ الَّذِينَ تابُوا وَ أَصْلَحُوا»**( بقره سوره:آیه ۱۶) په دي حالت کې رب العزت په خپل فضل او کرم سره د خپل بنده توبه قبلوي، د توبې نه قبلول د خدای (ج) د ارادې خلاف دي او خدای (ج) دا کار نه کوي. زموږ لوی رب د قیامت تر ورځې پورې د توبې دروازې خلاصې ساتلې دي او خدای سره د خپل دی نه کوي، که د توبې وروڼه وتړل شول، د ودې هڅو نه یا انګیزه لمنځه ځي،انسان له هلاکت، فلاکت او په پای کې پر ځمکه لګېدواو له لویې بدبختۍ سره مخ کیږي، له توبې پرته انسان ته د ژغورنې یا خلاصون لپاره بله لار نه پاتې کیږي،خو داسې خلک هم شته چې د دې ټولو هېلو او اخطارونو په نظر کې نیولو سره خپلې ناپوهۍ ته لمن وهي او دوی په ګمراهۍ کې ډوب دي او نه یوازې له خپل خالق انکار کوي، بلکې په خپلو ټولو شیطاني چلونو او بدیو سره د نورو خلکو په ګمراه کولو بوخت دي. خدای تعالی د نساء سورې په ۴۸ او ۱۱۶ آیتونو کې فرمایي: **«اِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ اَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى اِثْمًا عَظِيمًا.»** (په تحقیق سره خدای (ج) (هېڅکله) شرك نه بښي او بې له دې،چې څومره ګناوې دي؛نو چا ته یې چې خوښه شي (او وړ یې وبولي) وربښي یې او څوك چې له خدای (ج) سره شریك ونیسي؛نو په حقیقت کې ستره ګناه یې کړې ده(.او بیا فرمایي: «**اِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ اَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيدًا.»** خدای (ج) یوازې شرك نه بښي؛ خو له هغه پرته نورې ګناوې چا ته چې یې وغواړي ( او وړ یې وبولي) بښي،چا چې له خدای (ج) سره شریك ونیوه؛نو هغه په بې لارۍ کې ( له حقه ) ډېر لرې ولاړ.« مشرکانو او ګمراهانو دا خپله دنده ګرځولې ده چې له خدای (ج) او د هغه له بندګانو سره دوښمني وکړي او د دوی په ژوند کې له فتنې، فساداودوښمنۍ پرته بل څه نشته دي.د اسلام د سپېڅلي دین په لارښوونو کې دا خبره په واضح ډول بیان شوې او وړاندوینه شوې ده، د هغو خلکو توبه چې د الهی آیتونو او نبوي احادیثو تحریف کوونکي دي او له دیني عقایدو منکر دي او په دین کې بدعت کوونکي دي، ټول هغه کسان چې د خلکو د ګمراهۍ لامل ګرځي ، توبه یې نه قبلیږي، دا ډول خلک د خدای (ج) په فضل کې شامل نه دي او د فرعون په څېر به په جاهلیت کې ډوب شوي او د خدای (ج) په غضب کې نیول شوي دي.

**خو ګرانو لوستونکو!**

په دې کې شک نشته چې ګناه هر څه چې وي، په توبې سره پاکیږي، عمومي او جامع ښنه د قرآن کریم په یوه آیت کې مهم پیغام دا دی:**«قُلْ يا عِبادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لاتَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَتِ اللهِ اِنَّ اللهَ يَغْفِرُالُّذنُوبَ جَمِيعاً» زما بندګانو ته ووایه! تاسو په خپل ځان ظلم کړی دی،د خدای (ج) له رحمت څخه مه ناهیلي کیږئ،ځکه چې خدای (ج) به ټول ګناهونه وبښي." (زمر: ۵۳ آیت** (خو د هغو کسانو توبې چې د حقایقو د پوهېدو پرته ناپوهه دي او یا د انحراف په اړخونو نه پوهیږي او یا په قصدي توګه ګمراه شوي دي. دوی د خپلې ژبې او قلم په وسیله د نورو په ګمراه کولو بوخت دي،دوی به ونه بښل شي او په پای کې به دوی په دنیا او آخرت کې په جهنم کې وشرمیږي او د خدای (ج) لعنت به پر دوی وي، لکه څنګه چې مو مخکې یادونه وکړه، قرآن کریم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرکانو او د شرک کوونکو،د کفراود الحاد د مبلغینو په هکله وايي:دا چې خدای (ج) ټول ګناهونه ښښي، خو د شرک ګناه نه ښښي: **«أنّ الله لایغفر أنْ یشرک به و یغفر ما دون ذلک لمَن یشأ؛ الله جل جلاله تعالی شرک نه ښښي او له دې لږ چاته چې وغواړي ښښي.** **(سوره نساء 116 آيت.)** ځینې علماء په دې عقیده دي،چې عمومي مفاهیم د توبې د آیتونو په الفاظو کې لیدل کېدی شي او داسې خبرې کول،په دې کې د ټولو انسانانو حالت شامل دی چې د شرک موضوع هم په دې کې شامله ده دوی وايي: په دې حکم کې مشرکین هم شامل دي لکه څنګه چې فرمايي: **«وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ؛ هغه ذات دی چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي » (سوره شورى آيه ۲۵)**
په ځواب کې باید وویل شي چې په دې کې هېڅ شک نشته، دا آیت او نور آیتونه چې د توبې احکام په کې راغلي، د شرک ښښنه هم د توبې په رڼا کې ده. نو د مشرک نه ښښنه د هغه د توبې د نه منلو په مانا نه ده،خو موخه دا ده چې ځینې ګناهونه،د خدای (ج) د پراخ رحمت له امله له توبې پرته،د نیکو کارونو په څېراولاروسره اود کبیره ګناهونو په پرېښودلو سره ښښل کېدای شي، خو شرک هېڅکله د دې خاص رحمت په دایره کې شامل نه دی، ځکه چې مُشرک د الله جل جلاله تعالی د رحمت وړ نه دی. البته، د توبې په رڼا کې ښښنه یوه ښکاره خبره ده،هغه کسان چې د اسلام په پیل کې یې اسلام پلو راتلل او د اسلام پیغمبر دوی قبلول، مشرک وو.نوله همدې امله،توبه او له ګناه بېرته راستنیدل به ټول ګناهونه آن شرک ومینځي.

## د فرعون توبه ولې ونه منل شوه؟

د فرعون توبه ونه منل شوه، ځکه چې د فرعون عقیده په بېړني حالت کې اوداړتیا له مخې ترسره او بدله شوې وه،یعني کله چې فرعون داسې حالت ته ورسېد چې له هغه حالت د تیښتې لار نه وه او د نجات لاره یې نه درلوده او د هغه مړینه حتمي وه،نو د هغه توبه او پښېماني ورته هېڅ ګټه ونه کړه،دادهغه ټولومجرمینو،ګناهکارانواوګمراهانوحالت او برخلیک دی،چې په بېړنیوحالاتو پښېمانېږي چې دوی ته توبه هېڅ ګټه نه شي رسولې.
قرآن عظیم الشان دا په ځانګړې ښکلا سره بیانوي: **«حَتّی اذا أدْرَکَهُ الْغَرَقُ قالَ آمَنْتُ أنَّهُ لا اِلهَ اِلاّ الَّذی آمَنَتْ بِهِ بَنُواِسْرائیلَ وَ أنا مِنَ الْمُسْلِمینَ» کله چې سېلاب د فرعون غېږه ونیوله، هغه وویل: زه باور لرم چې له هغه پرته بل هېڅ معبود نشته چې بنی اسرائیلو پرې ایمان راوړی دی او زه له تسلیم شویو کسانو یم. ». (سوره یونس:آیه ۹۰.)** له همدې امله خدای پاک هغه مخاطب کړ او ویې ویل:**«آلْآ نَ وَ قَدْ عَصَیتَ قَبْلُ وَ کُنْتَ مِنْ الْمُفْسِدِینَ؛ ایا اوس ایمان راوړې، په داسې حال کې چې تر دې مخکې تا بغاوت او سرکشي کوله او د فساد کوونکو په صف کې وې؟**

## ګرانو لوستونکو !

دا حکم د فرعون لپاره خاص نه دی، د توبې د قبلولو یو شرط دا دی چې توبه د مرګ نه مخکې وشي، لکه څنګه چې قرآن کریم فرمايي:**«وَ لَیسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذینَ یعْمَلُونَ السَّیئاتِ حَتَّی إِذَا حَضَرَ أَحَدُهُمُ الْمَوْتُ قالَ إِنِّی تُبْتُ الْآنَ.»د هغه چا لپاره توبه نشته چې بد عملونه وکړي او د مرګ په وخت کې توبه وکړي.» (الناس سوره: ۱۸ آيت**(که څه هم پوهیږو چې شرع په عبادت کې په نقل ولاړ دی نه په عقل، د خبرې عام فهم، استدلال، په ساده ژبه او په منطقي ډول د الهي اجراو ثوآب په تاکنې کې دی. هغه چې د انحراف لار یې تعقیب کړي وي اود بېرته راستنیدو لار او فرصت تېر ي خو په پای کې د لاچارۍ له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

توبې ته مخه کوي، په دی حال کې ذهني منطق دا وایي چې باید توبه ونه منل شي،خو له بل اړه دا منطق او استدلال د پاک الله سبحان تعالی په رضا او اراده کې نغښتی دی کېدای شي، چې وبښل شي (ان شاء الله جل جلاله تعالی .(البته دا آیت د هغو آیتونو مفهوم لري،چې وایي: توبه تر وروستۍ ساه یا سلګۍ پورې قبلیږي او په دی کې هېڅ تضاد نشته،ځکه دا هغه شېبې دي چې په اصطلاح یې تراوسه یې د مرګ حتمي نښې نه دي لیدلي او نه یې د عقبا په نامه څه لیدلي او اوریدلي دي.

**پاکه ربه!** موږ د ربښتیني توبه کوونکو په صف کې ودروه او له ګمراهۍ مو وساته.هغه څوک چې الله جل جلاله په هر حالت کې حاضر او ناظر ګڼي، نو هېڅکله دې کفر ونه کړي او د شراو فساد تبلیغ دې ونه کړي. الهي ذات له دې ټولو فتنواو فساد مبرا دی چې پرې یې تړي، په دې برخه کې سرغړونکي، لوړی او مخکې له دې چې نوروته زیان ورسوي، ببرته خپل ځان ته زیان رسوي. موږ انسانانو ته له دې پرته بله لاره نشته چې خپلو اعمالو ته رجوع وکړو او پر دې قرآني آیې په خپل ژوند کې د یوه مثال په توګه عمل وکړو. موږ ته لازمه ده چې په اخلاص او صداقت دعا وکړو او اعلان وکړو:

»**رَبَّنا ظَلَمْنا أَنْفُسَنَا وَ أَنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنا وَ تَرْحَمْنا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخاسِرينَ. «خدایه! موږ پر خپل ځان ظلم وکړ او که ته موږ ته ببښنه او رحم ونه کړې، نو موږ به له زیانکارانو یو.» (اعراف سوره، ۲۳ آیه)**

## شیطان خبیث:

**يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ « اې خلکو! هغه څه وخورئ چې په ځمکه کې دي، حلال او پاک دي او د شیطان په ګامونو( لارو) پسې مه ځئ ، ځکه چې هغه ستاسو ښکاره دوښمن دی.» (سوره بقره، ۱۶۸ آیه)** د ژبپوهني او دیني علماوو مطلق اکثریت په دې باور دی چې **"شیطان"** په ټوله کې عربي کلمه ده او دا د **«شطن»** له کلمې څخه اخیستل شوې. **«شطن»** د لرې کېدو مانا لري او هر باغي او سرکښ ته که څه انسان وي، پېرى او که هم حیوان وي، د (شیطان) خطاب کېداي شي، خو **«شاطن»** کلمه د خبیث( بدکار، ناپاک، بدخواه ،ذلیل پلید ) په مانا ده او ابلیس، د هغه اولاد (کورنۍ) او د هغه مرستیالان (مرستندویان) د همدې نافرمانۍ او سرکښۍ،کینې او فتنې له وجې د شیطان په نوم یاد شوي دي. دا کلمه په قرآن کریم کې ډېروهغو کسانو ته ویل شوې ده چې له شیطان سره همکاري کوي.**(و اذاخلوا الی شیاطینهم قالوا انا معکم)(بقره سوره، ۱۴ آیه) ( او منافقان کله چې له خپلو شیطانانو سره یوازې وي، نو وایي: "موږ له تاسو سره یو.")** یا لکه څنګه چې د قرآن عظیم الشان د انعام سورې په ۱۱۲ آیت کې فرمایي: **(و کذلك جعلنا لکل نبی عدوا شیاطین الانس والجن)( او موږ هم د هر پیغمبر لپاره د انسانانو او پیریانو له شیطانانو څخه دوښمنان جوړ کړل)** د **«الشیطان»** او**«الشیاطین»** او**«شیطاناً»** کلمې له (۹۰) ځلې ډېر د قرآن کریم په بېلابېلو سورو کې ذکر شوي چې په ټوله کې شیطان د دوښمن بدخوا په نامه یاد شوی. په روایاتونو کې راغلي، شیطان په ملندو سره وایي، ربه! ستا بنده ګان له ستا سره مینه کوي، خو ستا نافرماني هم کوي، خو برعکس، دوی ما خپل دوښمن ګڼي، خو دوی زما اطاعت هم کوي، په ځواب کې ورته ویل کیږي : ما د دوی اطاعت ستا سره د دوښمنۍ له امله ببنلی او زه د دوی ایمان قبولوم، که څه هم دوی زما سره د دوستۍ له امله زما اطاعت نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په قرآن کريم کې د شيطان ځينې ناوړه صفتونه:**

**لومړی صفت:**

کوم چې په قرآن عظيم الشان کې د شيطان لپاره ورکړل شوی، انسان او د هغه اولادونو سره سخته دوښمني ده.. **(ان الشيطان للانسان عدو مبين)**(بيشکه شيطان د انسان ښکاره دوښمن دی) (سوره يوسف، ۵ آيه)

**دويم صفت:**

هغه څه چې په قرآن کې شيطان ته صفت ورکړل شوی دی: فتني، دسيسي د شيطان د ګمراهۍ لوبه ده:**(قال فبعزتك لاغوينهم اجمعين)** (**شيطان وويل: ستا په عزت مې دې قسم وي چې زه به دوی ټول وغولولم.)**

**درېيم صفت :**

په قرآن کې شيطان د کفر، کبر او غرور صفت دی:«**يعِدُهُمْ وَ يمَنِّيهِمْ وَ ما يعِدُهُمُ الشَّيطانُ إِلاَّ غُرُوراً؛**»«**شيطان دوی ته درواغجني وعدې ورکوي او په هيلو يې ساتي او له فريب او دوکو پرته بل څه ورسره نه کوي.»(نساء،۱۲۰ آيه)** همدارنګه د (ابراهيم/۲۲، حشر/۱۶-۱۷، اسراء/۶۴-۶۵، انفال/۴۸) اياتونوته رجوع وکړئ، په اصل کې په قرآن کريم کې د شيطان يو نوم کبر«**غرور**» دی.

غرور (کبر)

«**غُرُور**» د مبالغې صيغه «**غُرور**»او په اصل کې هغه څوک يا يو شی دی چې ډېر غلوونکی، فريب کاراوچل کوونکی وي. «**يا أَيهَا النَّاس إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَياةُ الدُّنْيا وَ لا يغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ** « **په يقين سره، د خدای (ج) وعده رېښتيا ده، اجازه مه ورکوئ چې د دنيا ژوند تاسو دوکه کړي او شيطان مه پرېږدئ چې تاسو وغلوي..» (د فاطر سوره، 5 آيه همدارنګه، د لقمان سوره، ۳۳ آيه)**

«**ينادُونَهُمْ أَ لَمْ نَكُنْ مَعَكُمْ قالُوا بَلى وَ لكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ أَنْفُسَكُمْ وَ تَرَبَّصْتُمْ وَ ارْتَبْتُمْ وَ غَرَّتْكُمُ الْأَمانِي حَتَّى جاءَ أَمْرُ اللَّهِ وَ غَرَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ؛**» (د قيامت په ورځ ) منافقين مؤمنانوته وايي چې موږ له تاسو سره نه وو، دوی وايي: هو! خو تاسو خپل ځانونه په هلاکت کې واچول او (د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مړينې) انتظار مو وکړ او په (هر څه کې) مو شک درلود، هغه ستاسو د لرې او اوږده خوبونو اوهيلو تاسو سره دوکه وکړه، ترڅو چې د الله حکم راغی او شيطان تاسو د خدای (ج) پر وړاندې وغولولئ. (د حديد سوره ، آيه)که موږ د آدم عليه السلام په کيسه کې د شيطان چلونو او دوکو ته پام واړو، نو جوته به شي چې شيطان په تکره اروايوهنه او د انسان په بدن کې پر دوو قوي ځواکونولاس ږدي يا پورې کوي (يو يې د ابديت هيله يا غوښتنه او بل يې د قدرت هيله يا غوښتنه ده) هغه ته يې درواغجنې وعدې ورکړې او د حضرت آدم (ع) د محاسبې وسيله يې په نښه کړه.

«**فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيطانُ لِيبْدِي لَهُما ما وُورِي عَنْهُما مِنْ سَوْآتِهِما وَ قالَ ما نَهاكُما رَبُّكُما عَنْ هذِهِ الشَّجَرَةِ إِلاَّ أَنْ تَكُونا مَلَكَينِ أَوْ تَكُونا مِنَ الْخالِدِينَ. وَ قاسَمَهُما إِنِّي لَكُما لَمِنَ النَّاصِحِينَ**» **بيا شيطان دوی وهڅول يا وسوسه کړل هغه چې د دوی له بدن څخه پټ دي را ښکاره کړي او ورته يې وويل چې رب مو تاسو له دې ونې منع کړي نه ياست، خو د دی لپاره چې(که يې وخورئ) ملائکه به شي يا به د تل لپاره (په جنت کې) پاتې شي او هغوی ته يې قسم وخوړ چې زه ستاسو خيرخواه يم »(د اعراف سوره، آيه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰-)«فَوَسْوَسَ إِلَيهِ الشَّيطانُ قالَ يا آدَمُ هَلْ أَدُلُّکَ عَلى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَ مُلْکٍ لا يبْلى» خو شيطان هغه وسوسه کړ او وويل: ای ادمه! ايا ته غواړې چې زه تا ته د ژوندانه ونې او تل پاتې ملکيت ته لاربنووونه وکړم؟ (طه سوره، ۱۲۰)او داسي ده چې خدای فرمايي: «فَدَلاَّهُما بِغُرُورٍ... وَ ناداهُما رَبُّهُما أَ لَمْ أَنْهَکُما عَنْ تِلْکُمَا الشَّجَرَةِ وَ أَقُلْ لَکُما إِنَّ الشَّيطانَ لَکُما عَدُوٌّ مُبِينٌ» او په دې توګه يې په چل سره دوی (له خپل مقامه) ښکته کړل او د دوی رب ورته وويل: آيا ما تاسو له دې ونې منع کړي نه وئ؟ او ما نه وو ويلي چې شيطان ستاسو ښکاره دوښمن دی؟» ( اعراف سوره ، ۲۲)

## ځلورم صفت:

په قرآن کې شيطان داسې دی چې، شيطان د انسانانو اعمال د انسانانو په سترګو کې داسې ښکلي او زينت کړي دي چې غواړي په دې ډول بې لارې کړي او خلک له سمې لارې وګرځوي (و زين لهم الشيطان اعمالهم فصدهم عن السبيل)( او شيطان د دوی عملونه د دوی په سترګو کې ښايسته کړل، نو دوی يې له سمې لارې منع کړل.) (نمل سوره ۲۴ آيه)

## پنځم صفت:

شيطان په قرآن کريم کې دا دی چې: شيطان تل خلکو ته د فحشا (زنا) او ګناه کولو امر کوي:«الشَّيطانُ يعِدُکُمُ الْفَقْرَ وَ يأْمُرُکُمْ بِالْفَحْشاءِ وَ اللَّهُ يعِدُکُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَ فَضْلاً وَ اللَّهُ واسِعٌ عَلِيمٌ؛شيطان، تاسو ته (انفاق( خرڅ يعنی مصرفيه وخت کې) د فقر او د لاس بندښت وعده درکوي او فحشا (او بديو) ته مو امر کوي، خو پاک الله سبحان تعالی تاسو ته د «ببښنې» او« زياتوالي» وعده درکوي او د خدای (ج) قدرت خورا لوی دی او په هرڅه ښه خبر او دانا دی . ( له همدې امله هغه خپلې ژمنې پوره کوي.)» (البقره سوره،۲۶۸ آيه)

## شپږم صفت:

شيطان په قرآن کريم کې دا دی چې شيطان ډېر غلوونکی او مکار دی، خو د هغه چل او غلونه ډېره ضعيفه ده.«ان کيد الشيطان کان ضعيفا»( په حقيقت کې د شيطان چل او غلونه ضعيفه ده ) نساءسوره،۷۶ آيه

## اووم صفت:

شيطان په قرآن کريم کې دا دی چې شيطان د هېرولو لامل ګرځي: «فانی نسيت الحوت ومالنسانيه الا الشيطان»(ما مياشت هېره کړه او شيطان هغه زما له هېره ونه ويسته خوشيطان (کهف سوره،۶۳ آيه ) ( فانساه الشيطان ذکر ربه) (شيطان پرې د خدای ذکرهېرنه کړ.) (يوسف سوره:،۴۲ آيه)

## اتم صفت

شيطان په قرآن کريم کې دا دی چې شيطان اولادونه او زيروون لري (افتتخذونه و ذريته اولياء من دونی و هم لکم عدوّ) (آيا تاسو هغه (شيطان) او د هغه اولادونه خپل ځارونکي (سرپرستان) نيسئ، په داسې حال کې چې دوی ستاسو دوښمنان دي. (کهف سوره، ۵۰ آيه)

## نهم صفت :

ځان خيرخواه( مهربان) ښودل: د شيطان يو له چالاکو لارو دا ده چې هغه د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

محاسبوي سيستم ته ننوځي او په دې توګه انسانانو ته زړه سواند، مهربان، خيرخواه يا سرپرست په توګه ځان ځرګندوي يا ښه يې د بېلګې په توګه د آدم (ع) په اړه د شيطان چال دا و.«فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطانُ لِيُبْدِيَ لَهُما ما وُورِيَ عَنْهُما مِنْ سَوْآتِهِما وَ قالَ ما نَهاكُما رَبُّكُما عَنْ هذِهِ الشَّجَرَةِ إِلاَّ أَنْ تَكُونا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونا مِنَ الْخالِدِينَ وَ قاسَمَهُما إِنِّي لَكُما لَمِنَ النَّاصِحِينَ» بيا شيطان دوی وهڅول يا وسوسه کړل هغه چې د دوی له بدن څخه پټ دي را ښکاره کړي او ورته يې وويل چې رب مو تاسو له دې ونې منع کړي نه ياست، خو د دې لپاره (که يې وخورئ) ملايکه به شي، يا به د تل لپاره (په جنت کې) پاتې شئ او هغوی ته يې قسم وخوړ چې زه ستاسو خيرخواه يم.»(د اعراف سوره، ۲- ۲۱ آيه ) د «وسوس له» له جملې څخه- او د «لام» تکي ته په پام سره کوم چې معمولاً د منع يا ګټې لپاره راځي- يا داسي راځي چې شيطان خپلو فتنو وسوسو لپاره انسان ته خپله ځېره ډېره مهربانه،خيراندیشه،خيرلرونکي وښيي،خو د«وسوس اليه» په جمله کې داسي کومه مانا هېڅ نشته ده،يوازې د يو چا په زړه کې د«په پټه ننوتلو » په مانا ده.

## ګرانو لوستوونکو!

پر دوښمن باور کول او د هغوی د خندا، ژمنو او ملاتړ په لومه کې ولويدل، يو بل ستر زيان دی، چې خلک بايد ورڅخه ځان وساتي، دوښمن بايد په هر ډول جامو کې د هغه د ښنو په واسطه وپيژندل شي او خلک بايد د هغه پيژندلو څخه خبر شي چې په ځينو مواردو کې د دوستۍ او مرستي تر شا پټ وي.

اې ربه! موږ د شيطان له شره وساته. اې ربه! موږ د شيطان له شره له تا پناه غواړو، يا تاته پناه راوړو .شيطان سره د مقابلې په اړه د قرآنکريم لارښووني او چارې لکه څنګه چې مو مخکې يادونه وکړه، قرآنکريم په څوآيتونو کې شيطان د انسان ښکاره دوښمن بللی او فرمايي: ان الشيطان للانسان عدو مبين؛« شيطان د انسان ښکاره دوښمن دی.»او په بل اخطار کې وايي، اجازه مه ورکوئ چې شيطان تاسو وغلوي يا مو دوکه کړي، لکه څنګه چې هغه ستاسو مور او پلار له جنته وويستل.

لوی قرآن انسان ته خبرداری ورکوي او تل د انسان لپاره د خطر تالی وهي او فرمايي: «هرڅوک چې د خدای (ج) پر ځای شيطان د خپل مشر او سرپرست ( روزونکي) په توګه غوره کړي، نو په ښکاره به لوی تاوان وکړي » همدارنګه قرآنکريم هم د شيطان د پيروانو په اړه فرمايي:«هر آينه( هنداره )زه به دوزخ له تا او هغه بندګانوڅخه ډک کړم چې ستا پيروي وکړي..» دلته يوه پوښتنه راپيدا کيږي او هغه دا چې د شيطان د خطرناکوپايلوپه اړه د ټولو قرآني نصيحتونو او د پيغمبرانواوعلماوو له ټولوګواښونوسره سره بيا هم ولې خلک له دې ګواښونوځينې غافل دي؟په څواب کې بايد ووايو چې د انسانانو دغه بې پروايي په لاندې عواملو کې خلاصه کېدای شي.

## لومړی عامل:

د شيطان نفوذ دومره پټ او دقيق پټ پلان لاندې وي چې سړی فکر کوي، دا پخپله ده چې دا ډول پرېکړه نيسي او هېچا سره د دوښمنۍ احساس نه کوي.

## دويم عامل:

د دې خطرناک دوښمن د تعقيب پايلې سمدستي نه دي، مطلب دا چې اکثره خلک د اماره نفس او شيطان پيروي کوي، دومره ژر نه ده چې انسان دې د هغه ترخه خواړو خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

وځکوي او د هغه پر وړاندې دې مقاومت وکړي.

**دریيم عامل:**

افراطي خوند اخيستنه چې په پایله کې يې خلک له مقاومت بې برخې کوي.

**څلورم عامل:**

حيرانتيا، تنوع اونرمښت چې په شيطان کې شتون لري، د شيطان د برنامو يو له اغيزمنو عواملوځينې دي، دې ته په پام سره چې شيطان په قرآن عظيم الشان کې د انسان ښکاره دوښمن په توګه وريپيژندل شوی .

## ولې خدای (ج) شيطان ته د وسوسې اجازه ورکړې؟

مخکې له دې چې دې پوښتنې ته ځواب ورکړم، غواړم لږ شاته ولاړ شم او په مختصره توګه لنډه کيسه د قرآن عظيم الشان له نظره پيل کړم.کله چې شيطان د نافرمانۍ له امله د الهي له درګاه وشړل شو،نوهغه له الله جل جلاله تعالی نه مهلت وغوښت،الله جل جلاله تعالی ورته تر تاکلې مودې پورې مهلت ورکړ،له دې مهلت وروسته شيطان وويل:دآدم اولاده به وسوسه کړم او هغوی به زه اړ کړم چې بد کارونه وکړي. قرآن کريم د حجر په سوره کې ( له ۳۶ آيت تر ۴۰ آيت پورې) په دې اړه داسې فرمايي : **« قال رب فانظرنی الی يوم يبعثون﴿۳۶﴾ قال فانك من المنظرين ﴿۳۷﴾ الی يوم الوقت المعلوم﴿۳۸﴾ قال رب بما اغويتنی لأزينن لهم فی الارض و لأغوينهم اجمعين﴿۳۸﴾ الاّ عبادك منهم المخلصين﴿۴۰﴾»** (**شيطان وويل: ربه! ما ته وخت راکړه، تر هغې ورځې پورې چې دوی معبوث کيږي**) پاک الله سبحان تعالی وويل: ته يو له هغو کسانو يې چې تر ټاکلې ورځې پورې مهلت ورکړل شوی دی.

**شيطان وويل:** پروردګاره! په سبب د دې چې تا زه ګمراه کړم،( د بني آدم اعمال) زه به هغوی سينګار کړم او ستا له پاکو بندګانو پرته به ټول ګمراه کړم.د دې پوښتنې په ځواب کې ويلی شو چې الله جل جلاله تعالی انسان پيدا کړی او هغه ته يې د ټاکنې،دغراوۍ واک او اختيار ورکړی، تر څو انسان د ښو، بدو، شر او خير په ټاکنه کې ازاد وي، د پيغمبرانو لاره تعقيب کړي او ابدي خوښي ترلاسه کړي او هم هغه کولی شي، ځان له الله جل جلاله تعالی او پيغمبر لرې کړي، ګناه، بدۍ او شر ته مخه کړي. په دې حال کې خدای پاک د انبياوو او الهي کتابونو په رالیږلو سره انسانان د خير او ښېګنې پر لور رابللي. اړينه وه چې بايد داسې ځواک هم موجود وي، چې انسان شراوبديولورته دعوت کړي،ترڅوانسان د ټاکنې واک او ازادي له لاسه ورنه کړي. دوه لارو سره مخ شي، بيا د سمې لارې په غوره کولو سره خپل کمال ثابت کړئ. دا بايد پام سره وويل شي چې انسان ته اړينه ده چې د لارې د ټاکنې او آزموينې کې ډېرغور وکړي.نو د شيطان له فتنې يوازې د مومنانو لپاره زيانمنونکې نه دي، بلکې د هغوی د لا پرمختګ لامل هم ګرځي او د شيطان له فتنو سره د خدای (ج) لاره غوره کول خورا ارزښتناکه دي او مومنان د شيطان له فتنو سره په مبارزه کې تر حده لوړ کمال ته رسيږي .په اصل کې د دوښمن شتون انسان نور هم چمتو او پياوړی کوي او دې ته اړوي چې خپل ټول وس او توان وکاروي او په خپل عزم ثابت پاتې شي.په عين حال کې بايد يادونه وکړو چې د شيطان وسوسې د جبر تر حده نه دي او شيطان هېڅکله نه شي کولی او نه هم اجازه لري چې انسان په ګناه کولو اړ کړي، د هغه کار يوازې فتنې دی او کله چې يو مومن څو ځلې د هغه وسوسو پر وړاندې مبارزه وکړي، نو هغه سره به د مخالفت کار ستونزمن نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. لکه څنګه چې قرانکريم د النحل سورې (۱۰۰-۹۹) آيتونو کې دا موضوع په ځانګړې ښکلا سره بيانوي:**«انه ليس له سلطان على الذين آمنوا و على ربهم يتوكلون انما سلطنه على الذين يتولونه «په حقيقت کې شيطان په هغو کسانو باندې حاکم نه دی چې ايمان يې راوړی او په خپل رب يې توکل کړی. د هغه واکمني يوازې پر هغه چا باندې ده چې د هغه ولايت يې منلی وي** (.همدارنګه په بل ځای کې قرآنکريم د شيطان له ژبې څخه نقل کړی چې د قيامت په ورځ د هغو کسانو په ځواب کې به ووايي چې شيطان د خپلې ګمراهۍ ګرم ګڼي:**«و ما كان لى عليكم من سلطان الا ان دعوتكم فاستجبتم لى فلا تلو مونى و لو موا انفسكم» د (ابراهيم سوره:، ۲۲ آيه ) (ما په تاسو باندې هيڅ اختيار نه درلود، پرته له دې چې ما تاسو ته بلنه ورکوله او تاسو منله، نو ما مه ملامتوئ بلکې خپل ځان ملامت کړئ**.) په لنډه توګه، د شيطان فتنې هيڅ پابند نه دي او دا فتنه يا وسوسه اچونه د مومنانو د ودې او پرمختګ لامل هم ګرځېدی شي.

## په پای کې دعا کوو!

يا ربه! موږ د شيطان له فتنو، وسوسو، د هغه له شر، شيطاني اعمالو او د مکار شيطان له چلونو وساته.**«الذى يوسوس فى صدور الناس»** او د خناس وسوسه کوونکو،له شره مو په خپل حفظ او امان کې ولره.ربه! موږ له تا د شيطان له شر څخه پناه غواړو او په لوړ آواز سره اعلان کوو:**«قل اعوذ برب الفلق، من شر ما خلق، ومن شر غاسق اذا وقب، ومن شر النفاثات فى العقد، ومن شر حاسد اذا حسد»**

اې الله جل جلاله تعالى موږ تا پناه وړو چې د سهار رب يې، موږ پناه غواړو د مخلوقاتو له شر او د تورې شپې له شر څخه چې راځي، د هغو جادوګرانو له شر څخه چې غوټې لګوي او د هر حسد کوونکي له شره چې حسد کوي(.ربه! ته مهربانه او بښوونکی يې او خپل ګناهکاره بنده ګان خپل له رحم او فضل څخه مه محرومومه . آمين

## د شيطان له وسوسو څخه خلاصون:

په حقيقت کې فتنه يا وسوسه يوه خطرناکه ناروغي او د انسان لپاره د شيطان له دسيسو ده.شيطان غواړي چې خلک په فتنې او وسوسې په اچولو سره ګمراه کړي اوداسې حالت سره يې مخ کړي چې د الهي اطاعت منع شي،له همدې امله الله جل جلاله خپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته امر وکړ چې له دې فتنو يا وسوسو څخه له خدايه پناه وغواړئ او په دې اړه يې يو بشپړه سوره نازله کړې ده.(د الناس سوره )**«قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ(۱) مَلِكِ النَّاسِ(۲) إِلَهِ النَّاسِ(3۳) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ(۴) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ(۵) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ(۶« (**شيطان انسان وسوسه کوي او د هغه وسوسې د مومنانو لپاره ډېرې سختې دي او وسوسو درملنه په دوه ډېزونو کېدای شي.

۱ -مومن بايد وسوسو ته پام ونه کړي؛بلکه په کلکه يې رد کړي،ځکه چې وسوسې د شيطان له خوا دي او هغه ته زيان نه رسوي.

۲ -که د الله جل جلاله تعالى په ذکر کې مشغول شي،نو شيطان به ترې ليرې وي، له همدې امله خدای (ج) د شيطان په اړه فرمايي:**(الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ)** يعنې کله چې انسان د خپل رب په يادولو کې غفلت وکړي،نو شيطان ورته راځي او هغه وسوسه کوي او کله چې انسان خپل رب يادوي، نو شيطان ترې لرې کيږي.سوال کوونکواو دهغه په څېر نورو ته زما مشوره دا ده چې دا دوه کارونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ -وسوسوته پام ونه کړي اود هغه اغیزې لاندې رانه شي،نودخدای(ج)په امربه وسوسې لمنځه ولاړې شي،ځکه کله چې انسان هغه ته خپل پام واړوي،نو هغه زیاتیږي اوشیطان پرهغه غلبه کوي.
۲ -ډیرې وخت د پاک الله سبحان تعالی په ذکرکې بوخت شي اوالله (ج) ته پناه یوسي آیه الکرسي و معوذتین (د فلق او ناس سوره) ووایي او تکرار یې کړي،نو په دې کار سره به د پاک الله جل جلاله تعالی په امرد هغه وسوسې لرې شي.

## د شیطان کید( مکر، حیله) کمزور دی:

د ذکرشویواړخونو له مخې،باید دا فکر ونه شي چې د شیطان ځواک خورا پیاوړی دی او له هغه سره جګړه سخته اودرنه ده،د دې مفکورې دلرې کولولپاره الله جل جلاله تعالی فرمايي:**«إن کید الشیطان کان ضعیفا»** (نساء، ۷6) او په **«نحل»** سوره کې چېرته چې د قرآنکریم د تلاوت په مهال پراستعاذه امر کیږي،له دې سره سره یې داهم ویلي چې شیطان به پرهغو مومنانو باندې واک ونه لري چې پر خدای (ج) یې توکل کړی وي، یعني له خدای(ج) یې پناه غوښتې وي،لکه چنګه چې فرمايي:**فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ (۹۸) إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (۹۹) إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِينَ هُم بِهِ مُشْرِكُونَ (۱۰۰) (نحل سوره ۹۸-۱۰۰**)(**یعني کله چې غواړې قرآن ولولې، نو د رټل شوي شیطان څخه له الله جل جلاله تعالی نه پناه وغواړه، ځکه هغه مومنانو یا با ایمانه خلک چې په الله جل جلاله تعالی باور لري واک ونه لري، یوازې پر هغو خلکو به واک ولري، چې هغه خپل ملګری ګڼي او هغه شریک وګڼي**،د دې آیې شرحه کنټرول نه وي چې په خدای(ج) باورلري**«معارف القرآن»** (جلد ۸، نحل سوره ، آیه ۹۸ -۱۰۰) داستعاذې مسایل او تفصیل احکام شرعي چې ورځینې تیر شو هلته هم کتی شئ.

## د قرآن د پیل او پای تر منځ موقع:

الله جل جلاله تعالی قرآنکریم د الفاتحې په سورې پیل کړی چې لنډیز یې دا دی چې له الله جل جلاله تعالی مرسته وغواړئ او د خدای له حمد وروسته په مستقیمه لاره کې(صراط مستقیم) بریالي شئ.الهي مرسته او مستقیمه لار(صراط مستقیم)هغه دوه شیان دي چې په هغو کې د دین او انساني نړی بریا نغښتې ده،خو د دغودوو شیانو په مطالعې کولواو بیا له هغو په استفادې سره د شیطان د فریب او وسوسو لومه ګام په ګام پراخیږي،نوځکه الله جل جلاله تعالی د دا لومې د ماتولو لپاره چې استعاذه ده پای ته رسولی دی .

## ګرانو لوستونکو!

ام المؤمنین، عایشه - سلام الله علیها - فرمايي:« کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویده کېده،نو دواړه لاسونه به یې سره یو ځای کول او د اخلاص او معوذتین سورې به یې لوستلې،بیا به یې د لاسونو په ورغیو خپل مخ او تول ځان مسح کړ،دا کار یې درې ځلې کاوه،هر ځل به یې دا درې سورې تکرارولې او ویل به یې.( د اهل سنت په روایت)**اللهم اجعلنا من المخلصین في أعمالنا وادفع عنا أذي شیاطین الإنس والجن و أبعد عنا شر الموسوسین وقناعذاب جهنم و لا تفضحنا یوم العرض و الدین.«سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ «۱۸۰» وَ سَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ «۱۸۱» وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ «۱۸۲» (صافات سوره )**( ستا رب پاک او منزّه دی، پروردګاره!له هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې دوی يې (فکر کوي) د هغه په اړه بيانوي او سلام دې وي په ټولو پيغمبرانو او شکر او ستاينه دې د الله لره وي چې د جهانيانو رب دی.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ وَتُبْ عَلَيْنَآ إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ .اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، فِي الْعَالَمِينَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. سبحانك اللّهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرك وأتوب إليك. اللهم اجعل القرآن حجة لنا ولا تجعله حجة علينا برحمتك يا أرحم الراحمين.

يا خدايه! د خپل سپېڅلي کلام ترجمه مو قبول کړه او زموږ په نيکو اعمالو کې يې حساب کړه او قرآن زموږ د ژوند لارښود وګرځوه .

**آمين يا رب العالمين**
**صدق الله العظيم و صدق رسوله نبي الکريم.**

**ومن الله التوفيق**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د الناس سورې د مطالبو او موضوعاتو لیست

| شماره | نام سوره | معانی ومحتوی سوره ها | صفحه |
|---|---|---|---|
| | سُورَةُ النـاس | ـ الناس = خلک | |
| 1 | | ـ د سورة الناس منځپانګه: دا سورت رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د لاربنود او مشر په توګه لاربنوونه کوي چې د ټولو وسوسه اچونکو له شر څخه الله تعالی ته پناه یوسي . | |
| 2 | | ـ د تسميې وجه. | |
| 3 | | ـ د سورة الناس د آیتونو، کلمو او حروفو شمېر. | |
| 4 | | ـ په ټولیزه توګه د الناس سورې د آیتونو وېش. | |
| 5 | | ـ د سورة الناس عمومي محتوا. | |
| 6 | | ـ د سورة الناس تفسير او ژباړه. | |
| 7 | | ـ پرانسان د شیطان ګمارنې دلیل . | |
| 8 | | ـ په الناس سوره کې د الله تعالی صفتونه. | |
| 9 | | ـ په دې سوره کې د بحث وړ موضوعات. | |
| 10 | | ـ استغاثه تعریف. | |
| 11 | | ـ استغاثه ډولونه. | |
| 12 | | ـ الف: استغاثه په عالم أسباب کې. | |
| 13 | | ـ ب: استغاثه په عالم مافوق أسباب کې. | |
| 14 | | ـ استعاذه (پناه وړل). | |
| 15 | | ـ د قریشو مشرکانو د پناه غوښتلو عادت. | |
| 16 | | ـ د انسان دوه دېښمنان، انسان او جنات او مقابله. | |
| 17 | | ـ ولی شیطان په خناس ونمول شو؟ | |
| 18 | | ـ د خناسان ډله. | |
| 19 | | ـ شیطان او د هغه کنټرول پر انسان. | |
| 20 | | ـ د ګمراهانو توبه نه قبلیږي. | |
| 21 | | ـ په اصطلاح کې توبه. | |
| 22 | | ـ ولې د فرعون توبه ونه منل شوه؟ | |
| 23 | | ـ شیطان خبیث . | |
| 24 | | ـ په قرآن کریم کې د شیطان ځینې ناوړه صفتونه. | |
| 25 | | ـ له شیطان سره په مقابله کې د قرآن کریم لاربنوونه او لاربنوونه. | |
| 26 | | ـ ولې خدای شیطان ته د وسوسې اجازه ورکړه؟ | |
| 27 | | ـ د شیطان له وسوسو څخه خلاصون. | |
| 28 | | ـ دشیطان حیله کمزوره دی. | |
| 29 | | ـ د قرآن د شروع او ختم تر منځ موقع | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د الناس سورې ژباړه او تفسير**

ليکوال: امين الدين « سعـيـدی - سعيد افغانی »
افغانستان د ستراتيژيکو مطالعاتو د مرکز مشر
او د حق لاهور د کلتوري مرکز مشر – المان
saidafghani@hotmail.com:
ژباړن مجيب الرحمن خطيبی.
ليکوال او ژوناليست
دشمشاد تلويزيون د ارزوني څانګي مسوول
Khatibim07@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**